# مېرمن مجله

افغانو مېرمنو ته ځانګړې شوې مجله

لومړی کال؛ څلورمه ګڼه

ژمی؛ ۱۴۰۳ل



## د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د رسنيو وضعيت

مژده محمديار

د ۲۰۲۱ز کال د نوېمبر په ۲۱مه، طالبانو اته «ديني لارښودونه» صادر کړل. له هماغه وخته، رژيم بار بار خبريالانو او د رسنيو کارکوونکو ته خبرداری ورکړی، چې داسې مواد خپاره نه‌کړي، چې طالبان يې د «اسلامي ارزښتونو» او «ملي ګټو» خلاف ګڼي. برسېره پر دې، د ۲۰۲۲ کال د مارچ له ۲۸مې، خصوصي چينلونه له دې منعه شول، چې د نړېوالو خپرونکو، لکه د امريکا غږ (VOA) او بي بي‌سي(BBC)، هر ډول خبري پروګرامونه خپاره کړي. د دغه لارښود په اساس، تفريحي خپرونې، سريالونه او ځينې بهرني پروګرامونه، چې د رسنيو د تفريح او سوداګريزې برخې مهمه برخه جوړوي، محدود شول.



د «مېرمن» مجلې ټول حقونه له «مېرمن میډیا» سره خوندي دي.

# پېژندنه

نوم: مېرمن

د امتیاز خاوند: مېرمن میډیا

چیف ایډیټر: سهراب سپر

کتنپلاوی: د مېرمن میډیا غړي

ګرافیک ډیزاین: علي یزدانپناهي

د خپرېدلو نېټه: ژمی ۱۴۰۳ل.ل

ګڼه: څلورمه(۴)

د مجلې لیکوالان:
امین ستانکزی
ګلشن
مژده محمدیار
خاطر

د وېبپاڼې پته: www.merman.media

په لاندې ایمېل له موږ سره اړیکه ونیسئ

contact@merman.media

په ټولنیزو رسنیو کې مو هم څارلی شئ؛

Merman Media

Merman

Media

# لړلیک


## د څلورمې ګڼې سریزه

د مېرمن مجلې اداره

۲

## د مېرمنو لپاره د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د ایجاد لارې چارې

امین ستانکزی

۳

## په کلیوالي پرمختیا کې د ښځو د پیاوړتیاوو د اغېزناکو لاملونو څېړنه

ګلشن

۱۱

## د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د رسنیو وضعیت

مژده محمدیار

۱۶

## د ښځو په پیاوړي کولو کې د نارینه‌وو رول

خاطر

۲۵

# د څلورمې ګڼې سریزه

د مېرمن مجلې اداره

په ټوله نړۍ کې حکومتونه، سازمانونه او نړۍوالې ټولنې لا هم د جنسیتي برابرۍ د تامین لپاره هڅې کوي، چې دا د ملګرو ملتونو د پایدار پرمختګ موخو (SDGs) له اساسي اصولو څخه دي؛ خو په افغانستان کې ښځې د جنسیتي اپارتاید له یوې سختې بڼې سره مخ دي. هغوی له خپلو اساسي حقونو، لکه زده‌کړه، کار، ټولنیز ګډون، اقتصادي خپلواکۍ او آن له کرامته ډک ژوند محرومې شوې دي او دوامدار بشري بحران تجربه کوي.
شعارونه، سمبولیکې کړنې او د همبستګۍ بیانیې بسنه نه‌کوي. که څه هم د نړۍوالو سازمانونو په غونډو کې د ملاتړ غږونه اورېدل کېږي، دا یواځې الفاظ دي، چې د افغان ښځو واقعیت نه بدلوي. د دې بحران ژور درک یواځې د سطحي خبرو له لارې نه‌شي کېدی؛ بلکې دا اړتیا لري، چې دقیقې او علمي څېړنې ترسره شي. همدا لامل دی، چې مېرمن مجله شته، چې یواځې له شعارونو او عامو بحثونو ورهاخوا لاړه شي او د افغان ښځو د سرکوبۍ سیستماتیک اړخونه تحلیل کړي. زموږ هدف د واقعیتونو تحلیل، د چوپتیا ماتول، او د معنیٰ لرونکو بحثونو لپاره فضا رامنځ ته کول دي، چې ممکنه حل‌لارې وړاندې شي.
دا مجله یواځې یوه خپرونه نه‌ده؛ بلکې دا یو څېړنیز بنسټ، د انتقادي تحلیل لپاره ځای او یو فکري مرکز دی، چې د افغان ښځو د مبارزې مستند کولو ته ژمن دی. هغه ظلم چې دوی تجربه کوي، یواځې د بشر حقونو نقض نه‌دی؛ بلکې یوه تنظیم شوې او سیستماټیکه هڅه ده، چې دوی له عامه ژوند څخه حذف کړي. دا محرومیت تصادفي نه‌دی، بلکې تنظیم شوی، عمدي او ژورې ریښې لري.
په هره ګڼه کې موږ هڅه کوو، چې د افغان ښځو د وضعیت په اړه فکري بحثونه ژور کړو. د مجلې څلورمه ګڼه له پښتو، دري او انګلیسي ژبو څخه جوړې نیمه‌اکاډمیکې مقالې وړاندې کوي، چې خپلو ژمنو ته دوام ورکړي. دا مقالې یواځې شخصي کیسې نه‌دي، بلکې د افغان ښځو د ژوند بېلابېل پیچلي اړخونه څېړي او کلتوري، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي عوامل تحلیلوي، چې د دوی ژوند اغېزمنوي. د دوی د واقعیت درک یواځې د ساده‌ګۍ له مخې یا د سطحي فعالیتونو له لارې نه‌شي کېدی. یواځې د ژور علمي تحلیل له لارې کولی شو، د دوی د ژوند پېچلتیاوې وڅېړو او د بدلون لپاره احتمالي لارې ومومو.
په تېرو درېیو ګڼو کې مېرمن مجلې په هره ګڼه کې څلور مقالې خپرې کړې، چې د افغان ښځو د ژوند بېلابېل اړخونه یې روښانه کړي دي؛ خو موږ دې پایلې ته رسېدلي یو، چې آن ۱۲ مقالې هم نه‌شي کولی د دې بحران ټول اړخونه وڅېړي. د افغان ښځو تجربې پراخې، څوبعدي او د هېواد له تاریخ او دودونو سره ژورې تړلې دي. له همدې امله مېرمن مجله یوازې یوه خپرونه نه‌ده، بلکې دا یو وده‌کوونکی فکري مرکز دی، چې د ښځو پر ستونزو، دودونو، ټولنیزو شرایطو او احتمالي حل‌لارو تمرکز لري.
موږ باور لرو، چې پوهه ځواک دی. د انتقادي بحثونو لپاره فضا برابرول، پالیسۍ جوړوونکو، فعالانو او څېړونکو ته د بدلانه لپاره اړین معلومات ورکوي؛ خو موږ دا کار یواځې نه‌شو کولی. موږ څېړونکو، لیکوالانو او مفکرینو، که نوي وي او که تجربه‌لرونکي، بلنه ورکوو، چې خپل نظرونه د راتلونکو ګڼو لپاره راولېږي.
د افغان ښځو مبارزه باید هېڅکله له پامه ونه غورځول شي، ساده ونه ګڼل شي او نه هم هېر شي. اوس د تحلیل، مستندسازۍ او عمل وخت دی، چې تاریخ بیا د چوپتیا په فضا کې تکرار نه‌شي.



# د مېرمنو لپاره د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د ايجاد لارې چارې

امين ستانکزی
د پوهنتون استاد ـ د اقتصادي چارو کارپوه

**(Abstractلنډيز)**

په دې مقاله کې په افغانستان کې د ښځينهوو لپاره د کاروبار فرصتونو او په ځانګړي ډول د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د ايجاد په برخه کې د افغانستان له شرايطو سره سم ځينې لارښوونې وړاندې شوې دي، چې د ښځينهوو له لوري په عملي کولو او پلي کولو سره نه يواځې د خپلو عايداتي سرچينو په توګه کارولی شي، بلکې د ټولنې په اقتصادي وده او پرمختګ کې هم مهم رول لوبولی شي.

مقاله په هغو لارو چارو باندې بحث کوي، چې څنګه کولی شي، ښځينه له کمو امکاناتو په لاسي صنعت او سافټ مهارتونو کې د خپلو وړتياوو په کارولو سره د نوښت، استعداد او بدلون په راوړلو مالي او اقتصادي خپلواکي ترلاسه کوي.

په دې ليکنه کې مو هڅه کړې ده، چې د افغانستان له شرايطو سره سم د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو داسې بېلګې وړاندې کړو، چې د پيل لپاره يې کم امکانات او د ژر پيلېدو شرايط پوره کړي.

په افغانستان کې ښځينه کولی شي، له خپلو کورونو څخه يو شمېر کوچني او متوسط کاروبارونه پيل کړي، چې د لږې

پانګونې او کمو مهارتونو په مرسته ښه عاید تر لاسه کولی شي.
موږ په دې باوري یو، چې که چېرته په ښه شکل سره د اړوندو بنسټونو په مرسته د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو په برخه کې د ښځینه‌وو ظرفیت‌لوړونه، لاسنیوی او مالي ملاتړ وشي، نو لرې نه‌ده، چې په ټولنه کې د یوې مهمې اړتیا د پوره کولو دا تشه به هم ډکه شي، چې وکولی شي، په اغېزناکه توګه د خپل اقتصاد او ټولنې د ودې لپاره کار وکړي.
په کاروباري چاپېریال کې د شته فرصتونو په کتنې کولی شو ووایو، چې د ښځینه‌وو لپاره په ځینو ځانګړو برخو کې تر نارینه‌وو ښه فرصتونه شته دي.
زه د اړوندو موسسو او په ځانګړي ډول په حکومتي کچه د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د ملاتړ بنسټونو ته وړاندیز کوم، چې په دې برخه کې د ښځینه‌وو لاسنیوی وکړي او د ټولنې د یوې مهمې برخې په توګه د ښځینه‌وو لپاره کاروباري فرصتونه ایجاد کړي او پرېنه‌ږدي، چې ښځینه محتاجې او د نورو خلکو لاس ته ناستې وي.

**کلیدي کلمات:** افغانستان، تشبث، ښځینه، کاروبارونه، فرصتونه، ننګونې، لارې چارې

## پېژندنه(Introduction)

په کاروباري چاپېریال کې د ښځینه‌وو لپاره له پخوا زمانو راهیسې د یوې اړتیا په توګه کتل کېږي، حتیٰ په ځینو مواردو کې د نارینه‌وو په پرتله ښځینه ښې تامېدلی شي او د دې خبرې ډېر زیات مثالونه شته دي، د اسلام د مبارک دین په رڼا کې هم ښځو ته د تجارت او کاروبار جواز شته دی او همدارنګه په افغانستان کې په کلتوري او تاریخي لحاظ د ښځینه‌وو د کاروبار او تجارت زیاتې بېلګې لیدل شوې دي.
په اوسنیو شرایطو کې، چې ډېریو خویندو ته د خپلو کورنیو د سرپرستۍ دروند پېټی ور په غاړه دی، نو د دې لپاره اړینه ده، چې د دوی پر ظرفیت‌لوړونې، فرصتونو او اسانتیاوو باندې زیات تمرکز وشي.
د ښځینه‌وو لپاره د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ایجاد نه یوازې د اقتصادي ودې او ځان‌بسیاینې لامل ګرځي، بلکې د ټولنې د پرمختګ لپاره هم حیاتي رول لري.
په کاروباري سکتور کې د ښځینه‌وو بوختیاوې او هڅې د کورنیو او ټولنو اقتصادي پیاوړتیا لپاره ډېرې مهمې دي؛ ځکه چې ښځینه د ټولنې په پرمختګ او اقتصادي وده کې مهم رول لري. د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ایجاد نه یواځې هغوی ته اقتصادي خپلواکي ورکوي، بلکې له یوې سالمې کورنۍ او ټولنیزې ودې سره هم پوره مرسته کوي؛ نو ځکه په دې برخه کې کار کول ډېر اړین دي او په اوسنیو شرایطو کې خو دا اړتیا لا ډېره لیدل کېږي.
په داسې ټولنو کې، چې ښځینه له فرهنګي او کلتوري خنډونو سره مخ وي، دا کاروبارونه ورته د پر ځان بسیاینې او د کورنۍ د سرپرستۍ لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کېدی شي.
د دې لپاره چې ځینې اسانتیاوې، لکه د کاروباري فرصتونو ایجاد، د کاروباري سرچینو مدیریت، مسلکي روزنه، ملاتړ او حقوقي موضوعاتو باندې ښه پوهه ترلاسه شوې وي، دغه مقاله کې به د ښځینه‌وو د کاروبار د پیل لپاره عملي ګامونه، د بریا رازونه او د هغوی مخ ته پرتې ستونزې او حل‌لارې وڅېړو؛ په دې لیکنه کې مو هڅه کړې، چې د افغانستان له شرایطو سره سم د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو داسې بېلګې وړاندې کړو، چې د پیل لپاره یې کم امکانات او د ژر پیلېدو شرایط پوره کړي.
په افغانستان کې ښځینه کولی شي، له خپلو کورونو څخه یو شمېر کوچني او متوسط کاروبارونه پیل کړي، چې د لږې پانګونې او کمو مهارتونو په مرسته ښه عاید تر لاسه کولی شي.
د هغو کوچنیو او متوسطو کاروبارونو بېلګې چې ښځینه یې له کور څخه هم تر سره کولی شي او په اسانۍ یې د پیلولو او پر مخ بیولو وړتیا پیدا کولی شي او همدارنګه لږې پانګونې او کمو کارمندانو ته اړتیا لري، په لاندې ډول دي، که دا کاروبارونه او شغلونه په کټګوریو باندې ووېشو؛ نو لومړی یې مسلکي او فني مهارتونه دي او دوهیم یې Soft Skills دي، چې هر یو یې د زده‌کړو، امکاناتو او لاسرسي له امله خپل مقام لري او مېرمنې په‌کې انتخاب کولی شي.
په لاندې ډول د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د ایجاد لپاره د ښځینه‌وو له لوري د یو څو مهمو کاروبارونو بېلګې او

ډولونه ذکر شوي دي؛

**لومړی. لاسي صنعت، فیزیکي کار او خرڅلاو**

په دې کټګورۍ کې هغه کاروبارونه شاملېږي، چې په فیزیکي ډول په‌کې ښځینه کار کوي او ډېر کله د هغو ښځینه‌وو لپاره دا غوره انتخاب دی، چې له زده‌کړو پاتې شوې وي او یا هم په کافي اندازه زده‌کړې ونه‌لري او یا هم مخکې په تخنیکي او مسلکي ډول په همدغو مسلکونو کې پاتې شوې وي او د تجربې له مخې یې داسې کسبونه انتخابوي.

لاسي صنعت په افغانستان کې د یوه ښه او منل شوي صنعت په توګه پېژندل کېږي، چې د هېواد د صادراتو یوه غوښنه برخه هم جوړوي، لاسي صنعت، خیاطي او ګلدوزي په افغانستان کې له پخوانیو کاروبارونو او کسبونو څخه ګڼل کېږي، چې نن سبا هم ښه مارکېټ لري او مېرمنې هم کولی شي، چې له کور څخه هم دا کاروبار تر سره کړي؛ ځکه چې د قالین اوبدلو، ټغر اوبدلو، خیاطۍ، ګلدوزۍ او خامک برخه کې افغانې مېرمنې ښه وړتیا لري او د هېواد د لاسي صنایعو په برخه کې د ښه کیفیت او نوم درلودونکې دي، نو افغانې مېرمنې که سواد هم نه‌لري، دا چاره پیلولی شي او په مارکېټ کې د خرڅلاو په مټ خپله کورنۍ چلولی شي.

**بېلګې؛**

**۱. د قالینو، ټغرونو او فرش اوبدل**

د دودیزو غالیو، ګیلمو او ټغر جوړولو صنعت د افغانستان یو مشهور هنر دی، چې په کور دننه او بهر ښه بازار لري او د افغانستان د صادراتي توکو یوه عمده برخه جوړوي؛ نو په‌کې کار کول، هم اسان او هم د کور د غړو لپاره د ژر پوهېدنې او کارونې وړ دي.

**۲. د ګلدوزۍ او خامک‌دوزۍ کاروبار**

ګلدوزي او خامک‌دوزي بل هغه مشهور صنعت دی، چې ډېر ښه نوم او ښه مشتریان لري، په لاس د جوړو شویو ګلدوزي جامو، غاړو، دستمالونو او پردو کیفیت ډېر عالي او ښه مارکېټ لري، چې زموږ د کندهاري غاړو او د هزاره وطنوالو د ځانګړو لباسونو بېلګې د یادونې وړ دي.

**۳. د مریو اوبدلو کاروبار**

د ښځینه‌وو لباسونه او نور سامان آلاتو لپاره د مریو اوبدل یو بل ښه او نسبتاً د غوره مارکېټ درلودونکی دی، چې د لاسي صنعت په برخه کې یې مېرمنې په کور کې هم ترسره کولی شي او د خپلې کورنۍ د اړتیاوو پوره کولو لپاره یې بازار ته وړاندې کولی شي، د مریو اوبدل د باسلیقه مېرمنو او پېغلوټو لپاره د خوښې وړ ګاڼې دي او په بازار کې ښه قیمتونه هم لري.

**۴. چرمه‌دوزي او افغاني ګنډ کالي**

د افغاني ګنډ جامو برانډ یو ډېر پېژندل شوی او منل شوی برانډ دی، چې په کور دننه او بهر یې ښه مشتریان ځان ته پیدا کړي دي او د اصیل افغاني فرهنګ په ترویج او د کلتوري نښې په توګه یې خلک پېژني، چې نه یواځې په کور دننه یې خلک خوښوي، بلکې په بهرنیو هېوادونو کې د مېشتو افغانانو لپاره هم د خوښې وړ جامه ده او له افغانستانه یې په حضوري او انلاین ډول ورغواړي او بیا یې د خوښیو او نورو مناسبتونو په ورځو کې اغوندي؛ نو که چېرته په دې برخه کې زموږ خویندې کار وکړي او د غوره ډیزاین په کولو سره د مشتریانو غوښتنې په نظر کې ونیسي، نو لرې نه‌ده، چې د یوه برانډ په توګه په کور دننه او بهر ځان ته ښه بازار پیدا او پر ځان به بسیا شي.

**۵. له چرم څخه د جوړو شویو توکو خرڅلاو**

له څرمن او چرم څخه د توکو جوړول یو بل ښه او مناسب کار دی، چې مېرمنې یې په کور کې ترسره کولی شي او لږې پانګونې ته اړتیا لري، چې په دې کې چرمي کڅوړې، بوټونه، زینتي توکي او داسې نور بازار ته د یوه منل شوي برانډ په توګه وړپېژندلی شي.

**۶. د لرګیو نقاشي او توکي جوړولو کاروبار**

دې کې شک نه‌شته، چې ښځینه نظیفې او ظریفې دي؛ نو د نقاشۍ او په ځانګړي ډول له لرګینو توکو څخه د سینګار، ډیکورېشن او کارونې وسایل جوړول د دې لامل ګرځي، چې ځان ته ښه مارکېټ پیدا او په ښه شکل سره مخ ته لاړې شي، چې د کور واړه لوښي، دېوالي ساعتونه، تابلوګانې، سینګار توکي، چوکۍ ، مېزونه او داسې نور په‌کې شامل دي.

**۷. په لاس جوړې شوې ګاڼې پلورل**

د ښځینه‌وو د سینګار توکو او ګاڼو جوړول یو بل ښه او مناسب کاروبار دی، چې مېرمنې یې په کورونو کې پر مخ وړلی شي، په دې ډول کاروبار کې شاید یوه کمه اندازه پانګونې ته اړتیا وي؛ خو د هنر په درلودلو سره کولی شي، چې ښه او مناسبه ګاڼه تیاره او په بازار کې مشتریان ځانته پیدا کړي، د غمیو، سرو زرو، سپینو زرو او نورو قیمتي مرغلرو په مټ کولی

شي، غاړکۍ، لاس‌بندونه، ګوتمې، غوږوالۍ او داسې نور چمتو کړي.

**۸. د خټینو لوښو جوړول او بازار ته وړاندې کول**

د خټینو لوښو اړتیا اوس هم په ټولنه کې شته او په‌کې ډېره پانګونه نه ترسره کېږي او له کمې پانګونې سره مېرمنې کولی شي، چې کاروبار یې پیل کړي او د خلکو د ذوق او اړتیا مطابق تولیدات جوړ کړي او بیا یې بازار ته وړاندې کړي، چې خټین لوښي، په ځانګړي ډول، ګلدانونه، خوراکي لوښي، د کور زینتي توکي او داسې نور ترې چمتو او بازار ته وړاندې کړي.

**۹. د مسو او نورو فلزاتو کاروبار**

د مسو لوښو کارول یو له پخوانیو صنعتونو څخه دی، چې اوس هم د هېواد په ځینو سیمو کې رواج دی او په‌کې له کمې پانګونې سره کولی شي، چې د بازار د تقاضا مطابق خپل توکي جوړ او مشتریانو ته وړاندې کړي، په دې توګه د خپلې کورنۍ د سرپرستۍ دروند بار پورته کولی شي، چې مسین لوښي، د کور زینتي توکي او دودیز وسایل یې ښې بېلګې ګڼلی شو.

**۱۰. د وړیو اوبدل**

ښځینه کولی شي، چې وړۍ واوبي او همدارنګه د ماشومانو او ښځینه‌وو جامې، کورني توکي او یا هم زینتي توکي جوړ کړي او بیا یې بازار ته وړاندې کړي، په دې ډول کې نه یواځې د وړیو اوبدل شامل دي، بلکې د کور د اړتیا وړ توکي، چې له وړیو او ټوکر څخه جوړېږي، هم عرضه کولی شي او خپل کاروبار پرې مخ ته وړلی شي.

**۱۱. د روغتیایي او ارایشي توکو جوړول**

په کور کې ښځینه، روغتیایي توکي، چې له یوناني بوټو او جرړو څخه جوړېږي او د ځانګړو ناروغیو د درملنې لپاره کارېږي، جوړولی شي، چې نه یواځې د کورني استعمال لپاره یې خرڅلاو ته وړاندې کولی شي، بلکې بازار ته یې هم عرضه کولی شي، لکه سپېرکۍ، بادیان، خوږه ولې او داسې نور بوټي.

همدارنګه ښځینه په کور کې د ارایشي توکو په جوړولو کې هم کار کولی شي، چې طبیعي صابون، شامپو، لوشن او کریمونه یې د بېلګې په ډول یادولی شو.

**۱۲. د ماشومانو لپاره د تعلیمي او ښوونیزو توکو جوړول**

زموږ ښځینه کولی شي، چې په کورونو کې د ماشومانو لپاره تعلیمي توکي او ښوونیز وسایل چمتو کړي او بیا یې د اړونده سرچینو له لارې بازار ته وړاندې کړي، چې نه یواځې عمومي بازار ته یې وړاندې کولی شي، بلکې د سفارش له مخې یې هم توکي ورته تیارولی شي، چې دا برخه کمې پانګونې او لږو کارمندانو ته اړتیا لري، چې په‌کې د کتابونو جوړول، د ښوونځینو سکېل لېبونو ته ښوونیز لرګین توکي، کارتونه، خطاطۍ او رسامۍ یادولی شو.

**۱۳. د بوټو او ګلانو د روزنې او خرڅلاو کاروبار**

مېرمنې کولی شي، چې د بېلابېلو بوټو، ګلانو او ونو روزنه په کور کې وکړي او یا هم په کور کې د بوزغلیو په کرولو سره له دې سکټور څخه عاید تر لاسه کړي، چې دا چاره کمې پانګونې، لږو کارمندانو او یو څه اندازه ځای ته اړتیا لري، په دې کې د بوټو او ګلانو روزنه په داسې شکل سره هم کېدی شي، چې روزانه ترې تازه ګلان او بوټي بېلابېلو ځایونو ته د قرارداد له مخې واستول شي او ښه عاید ترې تر لاسه کړي، چې د تازه ګلانو کرل او پالل، د بوټو کرل، د زینتي بوټو کرل او خرڅلاو، د بوزغلیو او تخمونو کرل او بیا خرڅول یې غوره بېلګې دي.

**۱۴. د خوراکي توکو جوړول او خرڅلاو**

خوراکي توکي د هر انسان او هر کور اړتیا ده او په بازار کې د کورنیو خوراکي توکو ښه تقاضا شته، چې خلک یې د نظافت او خوند له امله هم زیات خوښوي؛ نو په دې برخه کې مېرمنې کولی شي، چې پانګونه وکړي او خوندور خوراکونه برابر او بیا یې بازار ته وړاندې کړي، چې ډېری وخت د دې برخې لپاره ښه بازار موندنه او ذایقه ډېره مرسته کوي. په دې کې دودیز خواړه هم پخېدلی شي او د ښادیو او مراسمو په جریان کې سفارش کوونکو ته استولی شي؛ د مربا، اچارو، چکنیو، وچو مېوو، وچو سبزیو، آش، پېرکیو، بولانیو، کورنیو کلچو او داسې نورو بېلګې د یادونې وړ دي.

**۱۵. د ښځینه او ماشومانو لپاره د پوښاک او فېشن ځانګړي توکي(کورنۍ خیاطي)**

ښځینه پوهېږي، چې کوم ډیزاین میندې او نجونې خوښوي او کوم ډیزاین د ورځې له موډ سره برابر دی؛ نو د همدې پوهې په مټ کولی شي، چې د ښځینه‌وو لپاره ځانګړي توکي او عام لباسونه تیار کړي، په لاسي صنعت کې یو ښه‌والی دا

دی، چې بغیر له سترو وسیلو او ماشینونو هم کولی شو، چې یو کاروبار روان او ښه یې پر مخ یوسو؛ نو ځکه یې د پیلېدو چارې نسبت اسانه دي او ډېرې پانګونې ته په‌کې اړتیا نه پیدا کېږي، ښځینه لباسونه، سکارف، حجابونه، چادریانې، جاکټونه، ټیکري او داسې نورې ښې بېلګې دي.

**۱٦. د تازه، وچو مېوو او سبزیو بسته‌بندي او پروسس**

په دې برخه کې د تازه او وچو مېوو د بسته‌بندۍ او په ځانګړي ډول د پروسس او تیارونې خدمات شامل دي، چې د دې برخې اړونده فابریکې، افرادو او یا هم په‌خپله د دې مسوولیت پر غاړه واخلي، چې مېوې پروسس او بسته‌بندي کړي او بیا یې مارکېټ ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کړي، د تازه مېوو بسته بندي لکه د انارو، منو، انګورو، د وچو مېوو بسته‌بندي لکه، د ممیزو، جلغوزیو، بادامو، پستو، د سبزۍ او نورو بسته‌بندۍ او پروسس برخې په‌کې شاملېږي.

**۱۷. د شیدو حیوانات، کورني چرګان ساتل او محصولات یې بازار ته وړاندې کول**

په کورنیو محصولاتو کې د چرګانو او حیواناتو ساتنه ډېره ښه پایله ورکوي او ښځینه له دې برخې سره زیاته علاقه‌مندي هم لري؛ نو په دې اساس دا چاره د دوی د علاقه‌مندۍ له مخې هم اسانه ده او په اسانۍ یې د پیلولو او پر مخ بیولو لپاره کار کولی شي، د چرګانو غوښې، هګۍ او د مالونو غوښې او لبنیات هغه څه دي، چې پرې عاید ترلاسه کېدی شي او وخت په وخت لا ډېر عواید ورکولی شي. د چرګانو روزنه، د فارمونو او وړو کوډنیو په شکل او همدارنګه هګۍ یې خرڅول او د مالونو او رمو ساتنه، د شیدو محصولات او سون توکي او داسې نور یې ښې بېلګې ګڼلی شو.

**۱۸. د ماشومانو د لوبو سامان او ساعت‌تېرۍ توکي جوړول**

که چېرته فکر وشي، د ماشومانو د لوبو سامان جوړول ډېرو کمو وسایلو ته اړتیا لري او په ډېره کمه اندازه پانګونه پرې کېږي؛ نو د کاروبارونو د دې سکټور په برخه کې پانګونه کول او په ځانګړي ډول د ښځینه‌وو لپاره ډېر ښه او مناسب فرصت دی، چې کار ورباندې وکړي او د ښه عاید لرونکې بېزنېس په توګه یې معرفي کړي، د ماشومانو د لوبو پلاستیکي سامان، د لوبو لرګین سامانونه له ټوکر او ټوټو څخه جوړ شوي توکي او داسې نور یې مثالونه دي.

**۱۹. د پلاستیکي محصولاتو جوړول او بازار ته وړاندې کول**

پلاستیکي محصولات یو له ډېرو کارېدونکو محصولاتو څخه دي، چې په افغانستان کې نن سبا ښه بازار لري او د تقاضا د ډېروالي له امله یې کاروبار ښه پرمختګ کولی شي او په دې توګه یې د ښځینه‌وو د کاروبار د یوه ښه او مهم اپشن په توګه بللی شو؛ ځکه چې د پلاستیکي محصولاتو ځینې بېلګې ډېرو کمو امکاناتو او کمې پانګونې ته اړتیا لري او ډېرو وسایلو ته اړتیا نه پېښېږي؛ نو ځکه یې د مېرمنو لپاره پیلول نسبت اسانه او د تقاضا د ډېروالي له امله یې د دې کاروبار د پرمختګ چانس هم نسبت زیات دی، د کور پلاستیکي لوښي، د لوبو توکي، پلاستیکي کڅوړې، پلاستیکي ګلان او ګلدانونه او داسې نور یې غوره مثالونه دي.

**۲۰. د زعفرانو، زیتونو، اینجې او تیلي نباتاتو پروسس**

په افغانستان کې د زعفرانو، زیتونو، اینجې او تیلي نباتاتو پروسس اوس ښه بازار لري او دا برخه مېرمنې د کمو او وړو ماشینونو په مټ کولی شي، چې تر سره کړي او په دې توګه یې د یو کوچني صنعتي او مسلکي ټیم په مټ خپل کاروبار ته پرمختګ ورکړي؛ دا هغه کاروبارونه دي، چې ډېر شاقه نه‌دي او ښځینه یې په فیزیکي لحاظ له عهدې څخه وتلی شي، د زعفرانو پروسس او بسته‌بندي، د زیتونو اچار او بسته‌بندي، د اینجې پروسس، د زیتونو تېل، د شړشمو تېل، د کنجدو تېل او د سیاه دانې تېل یې ښې بېلګې دي.

## دوه‌یمه کټګوري: نرم مهارتونه (Soft Skills)

د نرمو مهارتونو ښه‌والی دا دی، چې ډېرو کمو وسایلو ته یې اړتیا پېښېږي او په دې توګه یې پیلول او پر مخ وړل نسبتاً اسانه، خو په‌کې ډېر استعداد، پوهې او مسلکي وړتیا ته اړتیا ده، دا برخه په نوره نړۍ کې ډېر عواید لري، که ووایو، چې په نوره نړۍ کې د نرمو مهارتونو او خدماتو برخه کې ډېر زیات عواید دي او په مقابل کې یې تولیداتو او پروسس کې په هغه اندازه عواید نه‌شته، نو مبالغه به مو نه وي کړې؛ ځکه په نړۍ‌واله کچه د ډېرو عوایدو لرونکو کمپینو معلومات وکړو، نو معلومېږي، چې خدماتي اداري او نرم مهارت لرونکي اشخاص ډېر عواید ترلاسه کوي او دا زېرې زموږ په کور د ناستو مېرمنو لپاره هم دی، که چېرته دوی په ښه شکل او لوړې ارادې سره کار وکړي، نو لري

نه‌ده، چې د عوایدو ښې سرچینې به ومومې او په دې توګه د یوې نوښتګرې او متشبثې مېرمنې په توګه وپېژندل شي او د ښو عوایدو لرونکې به شي.

په لاندې ډول د هغو مواردو او خدماتي برخو بېلګې وړاندې کوو، چې افغان مېرمنې یې د ترسره کولو وړتیا لري او له کور څخه یې هم پر مخ وړلی شي او کار ورباندې کولی شي، په دې تړاو زیاتو لیکوالانو څېړنې کړې دي او د اقتصاد او کاروبار ماهرینو ګڼ شمېر وړاندیزونه دي، چې ځینې یې د افغانستان له شرایطو سره سمون خوري او د پلي کېدو وړ دي.

**۱. د کتابونو، مجلو، مقالو، څېړنو او مونوګرافونو ټایپینګ او لیکنې**

د کتابونو، مجلو، مقالو او مونوګرافونو لیکنه او ټایپینګ خدمات د یوه اسانه کاروبار په توګه وړاندیز کېدی شي، چې مېرمنې په اړونده مسلکونو کې پوهه، علمي وړتیا او د لیکنې علاقه‌مندي ولري، که چېرته په دې برخه کې مېرمنې خپله هڅه وکړي، نو له نړۍ‌والو ژورنالونو سره د ایډېټر، تصحیح کوونکي او رهبري بورډ کې کار کولی شي او په دې سره یواځې له خپل کور څخه په آنلاین بڼه خدمات وړاندې کولی شي او ښه عاید ترلاسه کولی شي. د لیکنیزو خدماتو په برخه کې د مقالې لیکل، بلاګونه او تبصرې لیکل، د CV لیکنه او فارمټ، سروې او د موادو تحلیل، د لیکنو تصحیح، ایډېټ پروفریډ کول او داسې نور موارد شاملېږي.

**۲. د ژباړو ترسره کول**

د اسنادو، مقالو او کتابونو د ژباړې خدمات هغه کاروباري فرصت دی، چې ښځینه یې په کور کې هم ترسره کولی شي او ډېرو امکاناتو ته ضرورت نه‌لري، په دې توګه په اسانۍ باندې کولی شي، چې ښه عاید ولري او د یوه معیاري ادرس په توګه خلکو باندې ځان ومني، د کتابونو ژباړې، د دولتي اسنادو او طرزالعملونو ژباړې، د رسمي جریدو ژباړې، د نړۍ‌والو مقالو او تحلیلونو ژباړې، د شخصي اسنادو ژباړې، د ایمیلونو او لیکونو ژباړې، د ویډیویي فیلمونو ژباړې او داسې نور یې بېلګې دي.

**۳. ګرافیک ډیزاینېنګ او ویډیو ایډېټېنګ (Freelance graphics designer & video editor)**

په نرمو مهارتونو کې یو له ډېر ښه بازار څخه برخوردار کاروبار ګرافیک ډیزاینېنګ او ویډیو ایډېټېنګ دی، چې نن سبا یې هر څوک له هر ځایه تعقیبولی او ترسره کولی شي، په دې برخه کې یو څه تخنیکي، مسلکي او مفاهمې ته اړتیا ده؛ نو که چېرته په پورته ذکر شویو برخو کې وړتیا لرئ، خپل کاروبار راپیل کړئ او په دې توګه له یوه کاروباري ذهنیت سره مخ ته لاړ شئ، لوګو ډیزاین، پوسټر ډیزاین، سوداګریز او شخصي کارټونو ډیزاین، د ټولنیزو رسنیو ډیزاین، د ویب‌سایټونو ډیزاین او داسې نور د فوټوشاپ، السټرېټر، کانوا، کورلډرا او نورو سافټویرونو په مټ جوړولی شئ.

**۴. د ویب‌سایټونو، اپلیکېشن او سافټ‌ویر جوړول**

د نرمو مهارتونو په سکټور کې یو بل مهم کاروبار د سافټ‌ویر، موبایل اپلیکېشن او وېب‌ډیزاینېنګ شامل دی، چې له خپل کور څخه یې کارونه ترسره کېږي او کولی شي، چې د اړیکو او مخامخ تګ لپاره د کورنۍ غړي او یا نارینه همکاران له تاسې سره مرسته وکړي، چې که اړتیا پېښېږي، نو کولی شئ، چې هغوی ورواستوئ او تاسې د رهبرۍ او لیډېنګ رول ولرئ، د موبایل اپلیکېشن، د ځانګړو ادارو لپاره سافټ‌ویر، وېب‌سایټونه، ټولنیزې او تجارتي رسنۍ او داسې نور یې بېلګې ګڼلی شو. (Netparkr, ۲۰۲۴)

**۵. د انلاین مشورو مرکز**

ښځینه د خپل قشر او په ځانګړي ډول د روغتیا، زده‌کړو، ماشوم روزنې او کورني ژوند په اړه د آنلاین مشورو ورکړې یو مرکز ولري، چې خلک یې او په ځانګړي ډول د مېرمنو لپاره خدمات وړاندې کړي، چې مېرمنې په خلاص زړه خپلې ستونزې ورسره شریکې کړي او په دې توګه د کورنیو موضوعاتو او جنجالونو د حل په لارو چارو ورسره ازادانه بحث ترسره کړي، چې دا ټول د فیس په ورکړې سره مخته تللی شي. د کورني ژوند ستونزې، ماشوم روزنه، ګډ ژوند، زده‌کړې، مهارتونه، روغتیا او ټولنیزه مشاوره هغه څه دي، چې په دې برخه کې شاملېږي.

**٦. د آنلاین پلور او سفارش مدیریت**

ښځینه کولی شي، چې له خپل کور څخه هم د خرڅلاو، سفارش او کاروباري اړیکو په مټ کار وکړي او په دې توګه له یوه کاروباري ادرس څخه خپل کارونه ترسره کړي، چې په آنلاین ډول د توکو خرڅلاو، د سفارش تر لاسه کول او حتیٰ مارکېټېنګ کې هم رول ولري او په دې توګه د فیصدۍ او یا

هم په خپله د خدماتو او توليداتو ارايه له کوره څخه ترسره کړي، د توکو بازاريابي، د توکو آنلاين خرڅلاو، انترنيتي مديريت او کمونيکشن او داسې نور يې بېلګې دي. (Wilde, ۲۰۲۲)

**۷. د ديني زده‌کړې، کلتور زده‌کړې او ژبې زده‌کړې خدمات**

په اوس وخت کې په دې برخه کې ډېر فرصتونه شته دي، په ځانګړې ډول بهر مېشتو افغانانو ته د خپلو اولادونو د روزنې او پالنې په برخو کې ارزانه او ښه پروسه همدا ده ، چې په آنلاين بڼه يې کورنۍ او بچيانو ته خدمات وړاندې کړل شي، چې د يو څه لږ اندازې پيسو په ورکړې سره هم له دې خدماتو برخمن کېدی شي او مېرمنې هم په غوره خدماتو وړاندې کولو سره د باور تر لاسه کولو په مټ لا نور ډېر کلاسونه او آنلاين تدريس ترسره کولی شي، د قرانکريم زده‌کړه، د ديني او اسلامي ارشاداتو آنلاين تدريس، آنلاين اسلامي اکاډمي، د کلتور او فرهنګ او هېوادنۍ مينې زده‌کړه، د ژبې زده‌کړه او داسې نور يې مثالونه دي.

**۸. د انلاين سوداګرۍ خدمات (E- Comers)**

په انلاين ډول د کاروبارونو ترسره کول د نرمو مهارتونو اصلي موخه ده، چې په دې کې ډېر د انلاين راکړې ورکړې سافټوېيرونه، پلېټفارمونه او د آنلاين کاروبار وېب‌پاڼې شاملې دي؛ خو په دې برخه کې مېرمنو ته د دقت او ښو زده‌کړو او مهارتونو د يادونې سپارښتنه کوم؛ ځکه چې په دې برخو کې ډېری نوي راغلي سېسټمونه د دې لپاره چې يو چا ته دوکه ورکړي، فرېبانه وعدې ورکوي او په لومړي سر کې ښه ګټه ورکوي؛ خو وروسته بيا دا هر څه يو جعل او فرېبکارانه عمل وي، په انلاين سوداګرۍ کې امازون تر نورو ښه او ډاډمن دی، چې په‌کې ډېر کار غواړي او ښه پوهه له تاسې سره مرسته کوي، چې په‌کې تاواني نه‌شئ، انلاين سوداګري د ټولنيزو رسنيو په مټ هم ترسره کولی شئ او په ډاډمن ډول يې توکي ورته انتقالولی شئ. Amazon FBA business, Selling Products on Amazon, sell on Etsy او داسې نور پلېټفارمونه شامل دي. (Raouna, ۲۰۲۳)

**۹. د خشکه‌شويي خدماتو کاروبار (Laundry Business)**

تاسې ته به ښه معلومه وي، چې په ښارونو کې د خشکه‌شويي خدماتو ته څومره اړتيا ليدل کېږي، چې په دې سره د هغه خلکو لپاره د جامو د مينځلو او يا اوتو کولو څوک نه‌لري او يا مسافر وي، د خدماتو عرضه به ترسره شي، چې ښېځې کم مصارف او د ژر شروع کېدو وړ کاروبار څخه ګڼل کېږي، لګښت يې کم او د ښه عايد لرونکی دی، د جامو پرېمينځل، د کورتۍ او واسکټ پرېمينځل، د جامو اوتو او داسې نور يې مثالونه دي.

**۱۰. د پاليسيو، ستراتيژيو او طرحو آيډياوې شريکول**

په دې برخه کې د مسلکي او فني ښځينه يوه ډله ګومارل کېدی شي، چې هره ښځينه د خپل مسلک اړوند مسوولیتونه ومني او په دې توګه يوه کاري ډله ورباندې کار وکړي او اړونده ادارو ته طرحې او پاليسانې وړاندې کړي او همدارنګه د آيډياوو په ورکړې سره کولی شي، چې نه يواځې د ښځينه‌وو د برخې په اړه کره او مهم معلومات او موضوعات تشريح کړي، بلکې د ملي پاليسيو او نورو برخو لپاره د دوی له پوهې څخه استفاده وشي، د پروپوزل ليکنې خدمات، د آيډياوو وړاندې کولو خدمات، د پاليسيو جوړولو او ستراتيژيو جوړولو خدمات او داسې نور يې ښې بېلګې دي. (below, ۲۰۲۴)

په پورته توګه د ښځينه‌وو لپاره د کاروباري فرصتونو يو څو بېلګې دي، چې په دوو عمده کټګوريو ويشل شوې دي، چې لومړی يې لاسي صنعت او پروډکشن برخه ده او بله يې د نرمو مهارتونو يا د Soft Skills برخه ده، چې په کور دننه او بهر يې د کارونې او همدارنګه له شته فرصتونو سره يې د پرتلې او پر مخ بيولو لپاره لارې چارې په ګوته شوې دي، دا مهارتونه د لرې پانګې او بشپړ کورنې چاپېريال په مرسته ترسره کېدی شي، په داسې ډول چې ښځې د کور له چاپېرياله بهر وتلو ته اړتيا ونه‌لري، د دغو کاروبارونو په مرسته ښځې نه يواځې اقتصادي ځان‌بسياينې ته رسي، بلکې نورې ښځې هم روزلی او حتیٰ ټوله کورنۍ پاللی شي.

## پايله (Conclusion)

په کاروباري چاپېريال کې د شته فرصتونو په کتنې کولی شو ووايو، چې د ښځينه‌وو لپاره په ځينو ځانګړو برخو کې تر نارينه‌وو ښه فرصتونه شته دي او دا هم ناشوني نه‌ده، چې

حتیٰ په ځينو برخو کې دوی له نارينه‌وو څخه هم څو قدمه مخکې او د برياوو لوړو پوړيو ته رسېدلې دي؛ خو دا هر څه پلټنه، کار او نوښت غواړي، چې په هېواد کې له شته شرايطو سره سم د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو ايجاد ترسره کړل شي.

مخکې مو چې څومره موارد ذکر کړل، په دې ټولو مواردو کې د اسلامي او کلتوري مسايلو په نظر کې نيولو سره د ښځينه‌وو لپاره کاروبار پيلېدلی شي او خپله ښځينه هم په ځينو برخو کې د کاروبار واګې په لاس کې اخيستلی شي او پر مخ وړلو وړتيا يې لري، دلته زموږ هدف له هغه کاروبارونو دی، چې ښځينه يې په کور کې هم ترسره کولی شي او په دې سره د خپلې کورنۍ لپاره د عايد يوه سرچينه پيدا کولی شي.

پايله دا ده، چې په افغانستان کې د مېرمنو لپاره د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو ګڼ شمېر فرصتونو شته دي او د مالي خپلواکۍ د تر لاسه کولو لپاره د ښځينه‌وو لپاره په‌کار ده، چې دغه ډول کاروبارونه وپلټي او د خپلې علاقه‌مندۍ، مارکېټ کې د پوهې او کاروباري سرچينو په تفکيک ورباندې کار وکړي او د يوه کاروباري ادرس په توګه نورو خلکو ته الهام ورکوونکې واوسي.

په مقاله کې د ذکر شويو معلوماتو او ارقامو په وړاندې کولو سره ادعا کولی شو، چې د مارکېټ له مطالعې وروسته مېرمنې د خپلې علاقه‌مندۍ پر اساس د يوه کاروباري ادرس په توګه حتماً پرېکړه کولی شي او د ځان‌بسياينې لپاره يو ګام پورته کولی شي.

## وړانديزونه (Recommendations)

زه خپله د يوه څېړونکي په توګه په لومړي سر کې هغو ښځينه‌وو ته، چې د کاروبار کولو وړتيا لري، دا وړانديز لرم، چې په لومړي سر کې د مارکېټ له تحليل وروسته د خپلو کاروباري سرچينو په کتنه يو کاروبار له لږ څه څخه شروع کړي او کرار کرار دې مخ ته لاړې شي.

په دوهيم ګام کې د اړونده موسسو او په ځانګړي ډول په حکومتي کچه د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د ملاتړ بنسټونه دې په دې برخه کې د ښځينه‌وو لاسنيوی وکړي او د ټولنې د يوې مهمې برخې د پرځان‌بسياينې لپاره دې لاس په کار شي او پرې‌نه‌ږدي، چې ښځينه محتاجې او د نورو خلکو لاس ته ناستې وي، همدارنګه له عامو خلکو هم داسې هيله کېږي، چې د کورنيو توليداتو او په ځانګړي ډول د مېرمنو په مشرۍ د ترسره کېدونکو کاروبارونو ملاتړ وکړي او د يوه ښه مشتري په توګه دې نه يواځې خپلې اړتياوې پوره کړي، بلکې د ملي اقتصاد د پياوړتيا په برخه کې دې خپل رول هم ادا کړي.

د اقتصاد او کاروبار د برخې نورو متخصصينو ته مې هم دا وړانديز دی، چې د مېرمنو لپاره د کاروبار او په ځانګړي ډول د کوچنيو کاروبارونو په برخه کې څېړنې وکړي او دوی ته د کاروبارونو د ايجاد فرصتونه او د خنډونو پر وړاندې د مبارزې زده‌کړه ورکړي او د ظرفيت لوړونې په برخه کې د فرصتونو پلټنه وکړي.

## References


1. below, S. (2024). www.shemeansblogging.com. Retrieved from shemeansblogging.n/: https://shemeansblogging.com/best-business-ideas-for-women/

2. Netparkr, P. (2024). www.gkne.hu. Retrieved from gkne: https://www.gkne.hu/women-ideas/?gad_source=1&gclid=Cj0KCQiA6Ou5BhCrARIsAPoTxr-BxaJSaYO5alghNCrOu4N6ySJYuuZSSPo1euLBcBb-M85yxkhFSBQD4aAvtREALw_wcB

3. Raouna, K. (2023, 12 20). www.learnworlds.com. Retrieved from .learnworlds: https://www.learnworlds.com/best-business-ideas-for-women/

4. Wilde, K. (2022). www.teachable.com. Retrieved from https://teachable.com/blog/business-ideas-for-women: https://teachable.com/blog/business-ideas-for-women



# په کليوالي پرمختيا کې د ښځو د پياوړتياوو د اغېزناکو لاملونو څېړنه

گلشن

**لنډيز**

د کليوالي پرمختيا راوړلو لپاره بايد له کليوالي کاري ځواک څخه بشپړه استفاده وشي. د دغه کاري ځواک له منځه ښځينه کاري ځواک هم د کليوالي پرمختيا په برخه کې کافي تجربې، لېوالتيا او بالقوه ظرفيتونه لري، چې له پامه غورځول به يې خامخا د کليوالي پرمختيا پروسه ټکنۍ کوي. د کليوالي سيمو د پرمختيا په پروسه کې د ښځينه کاري ځواک پر ګډون سربېره بايد د هغوی د پياوړتيا لپاره هم منظم ګامونه پورته شي، چې له لارې يې د متوقعه اهدافو ترلاسه کولو لپاره مناسبو ظرفيتونو ته د لاسرسي سطحه لوړه شي. په دغه مقاله کې ټول هغه لاملونه څېړل شوي دي، چې د کليوالي پرمختيا په پروسه کې د ښځينه کاري ځواک پر پياوړتيا باندې اغېز لري. څېړنه کيفي ده او د تکميلولو لپاره يې لازمي معلومات په کتابخانه‌يي شکل راټول او په تحليلي شکل ترې نتيجه اخيستل شوې ده. د څېړنې په تکميل سره دا پايله ترلاسه شوه، چې د زده‌کړو د سطحې لوړوالی، اقتصادي او اجتماعي مشارکت، پر خپل ځان باندې اتکا، بانکي قرضونو ته لاسرسی او محيطي او فرهنګي سېستمونه

د ښځینه کاري ځواک پر پیاوړتیا باندې اغېز لرونکي لاملونه ګڼل کېږي.

**کلیدي اصطلاحات:** پیاوړتیا، ښځینه کاري ځواک، کلیوالي پرمختیا او جنسیتي مساوات.

## سریزه

کلیوالي ښځینه کاري ځواک د ټولنې په ضرورت وړ اقتصادي، اجتماعي او مدیریتي کارونو کې د پام وړ ونډه لري، چې د کورني اقتصاد له غوړېدو او د کاري زمینو له ودې سره لازمه مرسته کوي. له همدې امله اړتیا احساسېږي، چې د هغوی د پټو وړتیاوو د تقویې لپاره اړین پروګرامونه تطبیق شي، د دې لپاره، چې د هغوی له بالقوه ظرفیتونو څخه د پرمختیایي پروژو په تطبیق کې اړینه استفاده وشي.(جکسن، ۲۰۱۰م)

که څه هم په زیاترو عنعنوي ټولنو کې په اقتصادي او اجتماعي چارو کې د ښځو پر ګډون باندې بندیزونه شته، خو اصلاً په توسعوي پروژو کې د ښځو ګډون زیات اړین او حیاتي دی؛ نو پر همدې اساس باندې د یادو امورو د ښه استحکام او ثبات لپاره باید د ښځینه کاري ځواک پر ګډون سربېره، د هغوی د وړتیاوو پر پیاوړتیا باندې اړینې پانګونې وشي.(شفیعي ثابت او یوسفي، ۱۳۹۵ش)

پیاوړتیا هغه پروسه ده، چې له لارې یې وګړي، ګروپونه او ټولنې په‌خپلو مشکلاتو باندې د برلاسي کېدو امتیاز ترلاسه کوي؛ نو پر همدې اساس د پیاوړتیا هدف له کمزورو وګړو سره د هغوی د ظرفیتونو او مهارتونو د لوړوالي په برخه کې مرسته کول دي.(کمیایي، ۱۳۹۰ش)

د ارزښت لرلو احساس، د تصمیم نیولو او مالکیت احساس، فرصتونو او منابعو ته د لاسرسي حق، په ټولنیز چاپېریال کې د ژوند کولو حق او په ملي او نړۍ‌واله کچه د عادلانه اقتصادي سېسټم د تطبیق لپاره په ټولنیزو تغییراتو باندې د اغېز صلاحیت؛ د ملګرو ملتونو له نظره د پیاوړتیا د پروسې محورونه ګڼل کېږي.(د ملګرو ملتونو سازمان، ۱۹۹۵م له خاني، ۱۳۹۱ش څخه په نقل)

څېړونکي په دې باور دي، چې ښځینه کاري ځواک په تولیدي، ټولنیزو، اقتصادي او نورو اړتیا وړ چارو کې تر ګډون وروسته له ځینو لاملونو څخه اغېزمن کېږي او د وړتیاوو پیاوړتیا احساس یې لوړېږي، چې په یادو شوو چارو کې فعال او رغنده رول ولري؛ نو پر دې اساس پر خپل ځان باور، ځان‌درناوی، سرمایوي اسانتیاوې، ګډون او د پوهې کچه هغه اړین لاملونه دي، چې د هغوی د وړتیاوو د پیاوړتیا لړۍ اغېزمنوي.(انډرسون، ۱۹۹٦م)

## د کلیوالي پرمختیا مفهوم او تعریف

د پرمختیا په ادبیاتو کې د کلیوالي پرمختیا زیات شمیر تعریفونه لیدل کېږي. که څه هم د دغو تعریفونو تر منځ فاصله او اختلافونه زیات دی، خو ګډ مفاهیم او اهداف لري. د ډیاسن په نظر، کلیوالي پرمختیا هغه ستراتیژي ده چې د غریبو کلیوالو وګړو د اقتصادي او ټولنیز ژوند د ښه کولو لپاره تطبیق کېږي.(ازکیا، ۱۳۸۱ش)

د مسیرا په نوم یو بل عالم په دې باور دی، چې په کلیوالي پرمختیا کې یواځې کرنیزه پرمختیا نه‌ده شامله، همدارنګه د ټولنیز پرمختیا کوم ځانګړی مورد هم نه‌دی، چې د اړمنو کلیوالو د لومړنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره له هغوی سره د پیسو د مرستو له لارې ترلاسه کېږي، بلکې کلیوالي پرمختیا د بېلابېلو فعالیتونو د یوې پراخې څپې او کلیوالي وګړو د انسجام پروسه ده، چې له لارې یې وګړي په‌خپلو پښو درېدو او په‌خپله د خپلو اړتیاوو پوره کولو وړتیا مومي.(ګریفن، ۱۳۸۲ش)

په کلیوالي پرمختیا کې تل دوه موضوعات زیات مطرح کېږي؛ لومړی، د پرمختیا په پروسه باندې حاکم لیدلوري، اهداف او لارې چارې او دوهیم، د پلان جوړونې په څرنګوالي باندې حاکمه پروسه. همدارنګه ویل کېږي، چې ظرفیت‌لوړونه او په مشارکتي ستراتیژیک شکل پیاوړتیا؛ د کلیوالي پرمختیا اصلي ارکان ګڼل کېږي. د پرمختیا په مورد پخوانیو لارو چارو په ناکامېدو سره د کلیوالي پرمختیا لپاره هم یو نوی مفهوم او ماهیت رامنځ‌ته شو او لاندې موضوعات په‌کې مطرح دي:

- بېلابېلو اقتصادي، اجتماعي او اکولوژیکي برخو ته پاملرنه؛
- فرصتونو ته عادلانه لاسرسی
- په داخلي پرمختیا کې د خلکو ګډون
- له ژوند څخه رضایت
- د خلکو پیاوړتیا او پوهې ته پاملرنه
- د سیمې د خلکو او پرمختیا د عاملینو تر منځ اغېزناکې اړیکې
- د ژوند چاپېریال ته پاملرنه (رضواني، ۱۳۹۰ش)

## د ښځو د پیاوړتیا مفهوم او تعریف

د ښځو پیاوړتیا د فردي او ټولنیز بدلون هغه پروسه ده، چې له لارې یې ښځې په فردي او جمعي توګه د انتخاب مهم او معنیٰ لرونکی واک او پهځپل ژوند باندې کنټرول ترلاسه کوي.(اونیل، ۲۰۱۴م) په بل عبارت، پیاوړتیا هغه پروسه ده، چې له لارې یې ښځې د خپلو ځانونو د سازماندهۍ او تشکیل وړتیا پیدا کوي، چې وکولی شي پر خپل ځان باور پیدا کړي، د خپلو ځانونو لپاره د انتخاب خپلواک حق ترلاسه کړي او ځانونه د نورو لاسونو ته له احتیاج څخه خلاص کړي.(ابوت او والاس، ۱۳۸۵ش) د ستراتیژۍ له نظره پیاوړتیا د تصمیمنیونې په قدرت کې د ونډې مدیریت ته ویل کېږي. د یوه کلي تعریف له مخې ویلی شو، چې پیاوړتیا د خپلو انتخابونو له لارې د شخصي او ټولنیزې سرمایې د زیاتوالي لپاره د وګړو د تسلط قدرت ته ویل کېږي.(قنبري او انصاري، ۱۳۹۴ش)

په ټوله کې، پیاوړتیا لاندې درې عناصر لري:

۱. فردي منابع (مادي او انساني منابعو ته لاسرسی)
۲. عاملیت (د شخصي ژوند د انتخاب حق)
۳. لاسته راوړنې (د ژوند هیلې، زده‌کړو ته لاسرسی، د کار په بازار کې ګډون او سیاسي فعالیت) (سن، ۲۰۰۹م)

## د ښځو د پیاوړتیا مقیاسونه او شاخصونه

د ښځو د پیاوړتیا د اندازه کولو او څرنګوالي لپاره د مختلفو نړیوالو سازمانونو او هېوادونو له لوري مختلف مقیاسات او شاخصونه طرحه او استفاده شوي دي، چې ځینې له هغو څخه په لاندې توګه یادوو.

### ۱. د انساني پرمختیا (HDI[1]) او جنسیتي پرمختیا (GDI[2]) شاخص

UNDP د لومړي ځل لپاره د ۱۹۹۵م کال د انساني پرمختیا په راپور کې د جنسیتي پرمختیا مقیاس معرفي کړ. د دغه مقیاس له معرفي کولو څخه هدف د انساني پرمختیا په مقیاس کې د دقیق وېش په نظر کې نیول وو. د جنسیتي پرمختیا مقیاس د انساني پرمختیا هغه مقیاس دی، چې د انساني پرمختیا مقیاس (HDI) د ښځو او نارینه‌وو تر منځ نابرابرۍ د حساسوالي په برخه کې تنظیموي. دا شاخص

1. Human Development Index
2. Gender Development Index

په درېیو برخو (ژوند، زده‌کړو او عوایدو) کې پر نابرابرۍ بحث کوي.

### ۲. د جنسیت پیاوړتیا مقیاس (GEM[1])

د جنسیت د پیاوړتیا مقیاس په واسطه په اقتصادي او سیاسي فعالیتونو کې د ښځو او نارینه‌وو پیاوړتیا اندازه کېږي. دا شاخص په لاندې برخو باندې تمرکز لري:

۱. اقتصادي مشارکت او د تصمیم نیونې ځواک
۲. په قانون جوړونه او لوړو بستونو کې د ښځو او نارینه‌وو فیصدي
۳. په مسلکي او تخنیکي بستونو کې د ښځو او نارینه‌وو فیصدي
۴. په اقتصادي منابعو باندې تسلط (کالسن او سکیولر، ۲۰۰۹م)

### ۳. د نړیوال اقتصادي انجمن د جنسیتي درز(شکاف) مقیاس (GGI[2])

د جنسیتي درز مقیاس په اقتصاد، سیاست، زده‌کړو او صحت برخو کې په نړیواله کچه د جنسیتي نابرابریو د معیاري کولو لپاره استفاده کېږي. دا مقیاس (GDI) او (GEM) دواړه مقیاسات سره ترکیبوي او د جنسیتي نابرابرۍ په باره کې زیات معلومات وړاندې کوي. په جنسیتي درز مقیاس کې لاندې اړخونه شامل دي:

۱. اقتصادي مشارکت (د ښځو او نارینه‌وو د بېکارۍ اندازه او په اقتصادي کارونو کې مساوي مزد او معاش)
۲. اقتصادي فرصتونه (په مدیریتي بستونو کې د ښځو شمېر، د زېږون د وخت ځانګړې رخصتي او د ماشومانو مراقبت)
۳. سیاسي پیاوړتیا (د ښځو وزیرانو شمېر او په قانونجوړونه او سیاسي مشارکت کې د هغوی ونډه)
۴. د زده‌کړو دوام (د زده‌کړو فیصدي او په لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا زده‌کړو کې د هغوی د موجودیت فیصدي)
۵. روغتیا (د زېږون کچه، د زېږون پر مهال د متخصصو ډاکټرانو شتون او د مرګ کچه)

### ۴. د ښځو د پیاوړتیا شاخص (WEI[3])

د ښځو د پیاوړتیا شاخص په څو مختلفو اړخونو کې د ښځو پرمختیا اندازه کولو لپاره استعمالېږي. په دغه شاخص کې

1. Gender Empowerment Index
2. Gender Gap Index
3. Women Empowerment Index

لاندې اړخونه شامل دي:
۱. نمايندهګي (ښځې پر منابعو باندې کنټرول لري او له وېرې پرته پرېکړې کولی شي.)
۲. عوايد (ښځې د اقتصادي فعاليتونو د مديريت وړتيا لري.)
۳. رهبري (ښځې په ټولنيزو فعاليتونو کې د مشارکت وړتيا لري.)
۴. منابع (ښځې په ټولنه کې د مساوي ګډون لپاره کافي مهارتونه او منابع لري.)
۵. وخت (ښځې د کور د کارونو ترسره کولو لپاره کم او د فعالو کارونو لپاره زيات وخت لري.)
په کليوالي پرمختيا کې د ښځو د پياوړتيا اغېزناک لاملونه په ځانګړي ډول د کليوالي پرمختيا په پروسه کې د ښځينه کاري ځواک په پياوړتيا باندې لاندې لاملونه اغېزې لري:
۱. زدهکړې
۲. اقتصادي او اجتماعي مشارکت
۳. پر خپل ځان باندې اتکا
۴. بانکي قرضونو ته لاسرسی
۵. محيطي او فرهنګي نظام

## ۱. زدهکړې

په زدهکړو کې د ښځو پراخ مشارکت د هغوی د پوهاوي د کچې د لوړوالي او په اقتصادي او ټولنيزو چارو کې د ګډون لپاره د هغوی د ځواک د زياتوالي سبب کېږي. په ټولنيزو چارو کې مشارکت تر ډېره د يادو چارو ترسره کولو لپاره د وګړو د ظرفيتونو او مهارتونو د سطحې د لوړوالي غوښتنه کوي او د زدهکړو ترسره کول د دې هدف په ترلاسه کولو کې بېساري مرسته کوي. د دې ټولو تر څنګ د زدهکړو په پروګرامونو کې له مشارکت سره په نورو ټولنيزو چارو کې د ښځينه کاري ځواک د مشارکت پر وړاندې حساسيت کمېږي. د پورتنيو پايلو ترلاسه کول خپله د کليوالي پرمختيا معيارونه پوره کوي.(کتابي او همکاران، ۱۳۸۲ش)

## ۲. اقتصادي او ټولنيز مشارکت

هېڅوک نهشي کولی چې يواځې د رسمي زدهکړو په پايله کې خپله د زدهکړو تنده ماته کړي، بلکې تجربوي زدهکړې له تيوريکي زدهکړو سره يوځای کولی شي، چې د انسانانو د زدهکړو تنده په ښه شکل سره ماته کړي. په اقتصادي او ټولنيزو چارو کې د ښځو ګډون له يوه طرفه د تجربوي زدهکړو زمينه برابروي او له بله طرفه دا مشارکت د هغوی لپاره د اقتصادي آزادۍ ترلاسه کولو له لارې د پر ځان باور سطحې لوړېدو لپاره هم حياتي ارزښت لري او په دې ټولو لاسته راوړنو سره د هغوی د اضطرابونو سطحه کمه او د روغتيا سطحه يې لوړېږي؛ هغه څه چې د کليوالي پرمختيا اړخونه جوړوي.(شفيعي ثابت او يوسفي، ۱۳۹۵ش)

## ۳. پر خپل ځان باندې اتکا

احتياج هغه بد حالت دی، چې د ژوند پر وړاندې د انسانيت کرکه پاروي. که چېرې ښځينه کاري ځواک د خپل ژوند پر مخ وړلو کې چا ته محتاج نه وي، نو په دې صورت کې هغوی کولی شي په جرأت سره د خپل برخليک اړوند پرېکړې وکړي؛ له دې پرته به د هغوی د پرېکړې کولو ځواک د هغوی د مالي ملاتړو په ولکه کې وي. هغوی همدارنګه کولی شي د پر ځان اتکا له امله د کليوالي پرمختيا په برخه کې حياتي چارې ترسره کړي.

## ۴. بانکي قرضونو ته لاسرسی

د کليوالي پرمختيا راوړلو لپاره تر هر څه وړاندې په اقتصادي چارو کې د ټولو کليوالو وګړو ګډون ته اړتيا ليدل کېږي. دا چې په کليوالي سيمو کې تر ډېره فقر حاکم وي، نو هغوی نهشي کولی د سرمايې کموالي له وجې په توليدوونکو اقتصادي فعاليتونو کې ونډه واخلي. که چېرې د انکشاف په ملي ستراتيژۍ کې د کليو پرمختيا ته ځانګړې پاملرنه وشي او په اقتصادي چارو کې د ټول کليوالي کاري ځواک د ګډون لپاره هغوی ته د بانکي قرضونو ورکړې زمينه برابره شي، نو دا چاره به په اقتصادي چارو کې د پراخ ګډون له وجې له کليوالي پرمختيا سره کافي مرسته وکړي او له دې پرته به سم نيمايي کليوالي کاري ځواک د محيطي او ټولنيزو ملاحظاتو له وجې د بېکارۍ شپې او ورځې تېروي او د ټولنې له دې ظرفيت څخه به هېڅ ګټه نه وي پورته شوې.(جليلان او همکاران يې، ۱۳۹۴ش)

## ۵. چاپېريالي او فرهنګي نظام

په دې کې هېڅ شک او شبه نهشته، چې چاپېريال او فرهنګ په وګړو باندې اغېزې لري. که چېرې چاپېريالي او فرهنګي جريانونه په اقتصادي، ټولنيز، صحي، سياسي او نورو برخو کې د ښځينه کاري ځواک ګډون ته زمينه برابره کړي، نو په يادو شويو برخو کې د ښځينه کاري ځواک فعال سهم به

بېرته د چاپېريال او فرهنګ د پرمختيا اسباب برابر کړي. د چاپېريال او فرهنګ بدلونونه، هغه وخت چې له داخل څخه مطلوبه حالت ته بدلون وکړي، خپله د کليوالي پرمختيا د ثبات او دوام لپاره مقدمات برابروي؛ خو که چېرې چاپېريال او فرهنګ په بشري کړنو کې د ښځينه کاري ځواک مخه ډب کړي، نو په دې سره به د ټولنې نيمايي کاري ځواک ونه‌شي کولی، چې په کاري زمينو کې بوخت پاتې شي، چې دا چاره له کليوالي پرمختيا سره ضد ګڼل کېږي.(شفيعي ثابت او يوسفي، ۱۳۹۵ش)

## پایله

کليوالي پرمختيا د يوه هېواد د باثباته پرمختيا لپاره حياتي رول لري، چې د نه تعقيب په صورت کې د هېواد پرمختيا له بېلابېلو ننګونو، لکه مهاجرت، د منابعو راکدوالي او نورو سره مخ کېدلی شي. په توليدوونکو اقتصادي فعاليتونو کې د ښځينه کاري ځواک فعال سهم اخيستل د کليوالي پرمختيا د ثبات او رامنځته کېدو لپاره ضروري شرط ګڼل کېږي. د دې لپاره چې ښځينه کاري ځواک په يادو اقتصادي چارو کې رغنده او پام وړ سهم ولري، لازمه ده د کمزورتياوو له منځه ورلو، پر خپلو پښو درېدلو او په مستقله توګه د خپل ژوند اړوند پرېکړو کولو لپاره يې زمينه برابره شي؛ چې اصطلاحاً پياوړتيا ګڼل کېږي. که چېرې ښځينه کاري ځواک ته د زده‌کړو، اقتصادي او اجتماعي مشارکت، پر ځان باندې اتکا او بانکي قرضونو ته د لاسرسي زمينه برابره شي او تر څنګ يې محيط او فرهنګ د هغوی ملاتړې وګرځي، هرو مرو به هغوی په ځواکمنه توګه د کليوالي پرمختيا په پروسه کې مشارکت ولري او له دې لارې به په فردي او ملي کچه هوساينه راوړلو کې رغنده رول ولوبوي.

## ماخذونه

1. Anderson, J. (1996). 'Yes, but is it Empowerment? Initiation, implementation and outcomes of Community Action. Critical Perspectives on Empowerment. Birmingham: Venture Press.

2. Jackson, M.A. (2010). Empowering Women of Nepal: An Experience of Empowerment in the Land of the Himalaya. M.A Thesis, Prescott College in Adventure Education.

3. Kalsen, S. and Schuler, D. (2009). Reforming the Gender-Related Development Index (GDI) and the Gender Empowerment Measure (GEM): Some Specific Proposals. Geurg University.

4. O' Neil, T. Doming, P. Valters, C. (2014). Progress on Women's Empowerment: From technical fixes to Political action. London: ODI.

5. Sen, A. K. (2009). The Idea for Justice. Harvard University Press.

۶. ازکيا، مصطفی. (۱۳۸۱ش). مقدمه‌ای بر جامعه شناسی توسعه روستايی، اطلاعات خپرونې.

۷. خاني، ف.، مطيعي لنګرودي، حسن او صياد بيدهندي. (۱۳۹۰ش). ارائه الګوهای توانمندسازی زنان روستايي استفاده کننده از IST (بررسی موردی: بخش مرکزی شهرستان الهيجان) توسعه روستايي. لومړی ګڼه.

۸. رضواني، محمد رضا. (۱۳۹۰ش). برنامه ريزی توسعه روستايی در ايران. انتشارات خپرونې.

۹. شفيعي ثابت، ناصر او يوسفي، سميه. (۱۳۹۵ش). تبيين عوامل مؤثر بر توانمندسازی زنان در فراګرد توسعه سکونت‌ګاه‌های روستايي (مطالعه موردی: ناحيه ګيلوان و آبر شهرستان طارم(. مجله پژوهش‌های دانش زمين. ۲۵مه ګڼه.

۱۰. قنبري، يوسف او انصاري، رحيمه. (شناسايی و تبيين عوامل اجتماعی و اقتصادی مؤثر بر توانمندسازی زنان روستايی.) مجله پژوهش و برنامه ريزی روستايی. ۱۱مه ګڼه.

۱۱. کميايي، عبداللهي. (۱۳۹۰ش). (شيوه‌های توانمندسازی زنان سرپرست خانوار) رفاه اجتماعی علمي - څېړنيزه مهالنۍ. ۴۰مه ګڼه.

۱۲. ګريفين، کيت. (۱۳۸۲ش). راه‌بردهای توسعه اقتصادی. ترجمه: راغفر، حسن او هاشمي، محمد حسين. نشر نی.



AFP

# د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د رسنيو وضعيت

**مژده محمديار**

**لنډيز**

رسنۍ د اړيکو د ټينګېدو په بهير کې يوه عيني او عملي وسيله ده، چې د معلوماتو، نظرياتو او فکرونو د انتقال لپاره، يا د ټولنيزو، سياسي، اقتصادي، فرهنګي، امنيتي او هنري پېښو د انعکاس لپاره په ملي او نړۍ‌واله کچه کارول کېږي. د بيان ازادي يو اساسي حق دی، چې د بشري حقونو د قوانينو او اساسي قوانينو له مخې ساتل کېږي. د افغانستان رسنيو يوه توپاني دوره تېره کړې او په تېرو شلو کلونو کې يې د مطبوعاتو د ازادۍ او د رسنيزو فعاليتونو په بېلابېلو برخو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی؛ خو د پخواني حکومت له سقوط سره، د افغانستان رسنيزې چارې په بشپړ ډول بدلې شوې او له ګڼو محدوديتونو سره مخ شوې. دا څېړنه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د رسنيو د وضعيت د ارزونې په موخه ترسره شوې ده او اساسي پوښتنه دا ده، چې د طالبانو د نوي حاکميت پر مهال د افغانستان پر رسنيو کوم محدوديتونه لګول شوي او دغه محدوديتونه د خبريالانو د کار پر طريقه او د رسنيو پر فعاليتونو څه اغېز لري؟

د څېړنې موندنې ښيي چې د افغانستان د رسنيو

وضعیت په تېرو دوو کلونو کې د بېلابېلو عواملو له امله مخ پر ځوړ دی، چې په‌کې د مالي سرچینو کمښت، معلوماتو ته نه لاسرسی، د طالبانو محدودیتونه، ناامني او ګواښونه شامل دي، چې په ټولیز ډول یې د رسنیزو فعالیتونو کمزوري کېدو ته لاره هواره کړې ده.

**کلیدي کلمې:** رسنۍ، د بیان ازادي، طالبان، ښځې، خبریالان، د معلوماتو د لاسرسي حق

## سریزه

رسنۍ د ټولنیز کېدو د مهمو عواملو له ډلې څخه شمېرل کېږي. ورځپاڼې، خپرندویې مجلې او په ځانګړي ډول تلوېزیون، سپوږمکیزو، الکترونیکي او ډیجیټلي رسنیو ته هره ورځ د ټولنې بېلابېل قشرونه لاسرسی لري، چې دا د هغوی پر نظرونو او عقایدو اغېز ښندي. په نننۍ نړۍ کې رسنۍ د نوو معلوماتو د لېږد، د افکارو او عامه نظریاتو د تبادلې او د بشري تمدن د پرمختګ په لاره کې لوی رول لوبوي. له همدې امله، ډېر پوهان اوسنی عصر د "ارتباطاتو عصر"، "د معلوماتو د چاودنې عصـر" او "د تبلیغاتو عصـر" بولي.

د نفوس زیاتوالی، په لویو ښارونو باندې د خلکو ډېر تمرکز، د صنعتي تمدن ځانګړي شرایط، د ټولنیز ژوند پېچلتیا، ملي او نړیوالې همکارۍ او همغږۍ، ناامني او بحرانونه، سیاسي او ټولنیز بدلونونه، فرهنګي بدلون، د دودیزو ارزښتونو پرېښودل او په ځانګړي ډول د ټولنیز وجدان بیداري؛ ټول هغه عوامل دي، چې ورځ تر بلې د انسان اړتیا د شاوخوا پېښو د خبرتیا لپاره زیاتوي. همدا لامل دی، چې د اړیکو د وسایلو پرمختګ، اقتصادي او ټولنیزه پراختیا، ډیموکراسۍ ته وده ورکول او نړیوال تفاهم یو له بل سره تړل شوي دي.

د افغانستان د رسنیو او رسنیزو فعالیتونو اوږده تاریخچه لري. د رسنیو کار په افغانستان کې د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پر مهال، د ۱۲۵۲ لمریز کال د «شمس‌النهار» ورځپاڼې له خپرېدو سره پیل شو. دا لومړنۍ ورځپاڼه وه، چې د افغانستان د ژورنالېزم په تاریخ کې وځلېده او د بیان د آزادۍ غږ یې پورته کړ. له «شمس‌النهار» وروسته، د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د رسنیو فعالیتونو دوام درلود، که څه هم دا فعالیتونه کله پیاوړي او کله کمزوري شوي دي.

په تېرو شلو کلونو کې (له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ز پورې د جمهوریت دوره) د افغانستان د رسنیو د پرمختګ تر ټولو روښانه مرحله ګڼل کېږي، چې اطلاع‌رسونې، ټولنیزو، تفریحي او اقتصادي برخو په رسنیو کې پراخ فعالیت درلود. همداراز، د بیان ازادي د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې وه؛ خو د رسنیو تر ټولو کمزوری پړاو د طالبانو د لومړۍ واکمنۍ (۹۰مه لسیزه) بلل کېږي. اوس یو ځل بیا همدا ډله د افغانستان واکمنه شوې ده.

دا څېړنه د تحلیلي - توصیفي میتود او د کتابتوني سرچینو له لارې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د رسنیو د وضعیت د ارزونې لپاره ترسره شوې ده.

## د رسنیو نظري مفهوم

د "ټولیزو اړیکو" اصطلاح عموماً هغو وسایلو ته کارېږي، چې د یوې ټولنې خلک یې د پیغامونو، نظریاتو او مفاهیمو د انتقال لپاره کاروي. دغه وسایل، مطبوعات، راډیو، تلوېزیون او خبري آژانسونه دي. د ورځپاڼې، راډیو، تلوېزیون او سینما رامنځ ته کېدو د انسان په ژوند کې له نورو علمي او صنعتي پدیدو څخه ډېر رضایت رامنځ ته کړی دی. د ټېکنالوژۍ د پرمختګونو له امله، د ټولیزو رسنیو ارزښت او اهمیت د هر بل وخت په پرتله ډېر زیات شوی دی. (آشنا، ۱۳۸۰: ۱۹)

رسنۍ شاید ظاهراً ساده وګڼل شي؛ خو د عامه پوهاوي د لوړولو، معلوماتو رسولو، اړیکو او له ټولو مهم، د فرهنګ‌جوړونې په برخه کې خورا لوړ اهمیت لري. همدا فرهنګ دی، چې د اړیکو اساسي زمینه برابروي. دا دواړه یعنې رسنۍ او فرهنګ، له یوه بل سره ژور تړاو لري، چې په پایله کې د "ټولنیز انسان" ترکیب رامنځ ته کوي. دا ټولنیز انسان د نړۍ په ډګر کې د اړیکو عمل ته دوام ورکوي. (فکوهي، ۱۳۸۹: ۱۱۰۵)

لکه څنګه چې یادونه وشوه، د رسنیو او فرهنګ تر منځ اړیکه دوه اړخیزه او نږدې ده؛ خو د ماډرنېزم له پیل او د ماډرنو ټولنو له رامنځ ته کېدو سره، چې د بېلابېلو او پراخو رسنیو موجودیت ته اړتیا لري، دا وضعیت بدل شوی دی. د ماډرنو رسنیو له رامنځ ته کېدو سره او د دوی د تکامل د بهیر په اوږدو کې، د رسنیو اغېز پر فرهنګ او په پایله کې د خلکو پر

ژوند تر پخوا زیات شوی دی. (هشیري، ۱۳۸۰: ۸)

## په افغانستان کې د رسنیو تاریخچه

د ۱۲۵۲ لمریز کال، چې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ زمانه وه، د افغانستان د رسنیو د زېږون کال ګڼل کېدی شي. په همدغه کال کې «شمس‌النهار» ورځپاڼه، چې د افغانستان د ژورنالېزم د اسمان لومړنی ځلنده ستوری و، خپره شوه او د بیان د آزادۍ غږ یې پورته کړ. د دغې ورځپاڼې مسوولیت میرزا عبدالعلي خان، چې د افغانستان د لومړنۍ لیتوګرافي مطبعې مشر و، په غاړه درلود.

«شمس‌النهار» په ۱٦ مخونو کې خپرېده او په میاشت کې دوه یا درې ځله به چاپېده. د دغې خپرونې تر څنګ یو شمېر ژباړونکي هم موجود وو. د امیر شېرعلي خان له مړینې وروسته، انګرېزانو د امیر عبدالرحمن خان ملاتړ وکړ او هغه یې واک ته ورساوه، چې له دې سره «شمس‌النهار» بنده شوه او نوره هېڅ افغاني رسنۍ خپره نه‌شوه.

د امیر عبدالرحمن خان تر مړینې وروسته، چې په ۱۹۰۱ زېږدیز کال کې رامنځ ته شوه، امیر حبیب‌الله خان په کابل کې واک ترلاسه کړ.

«شمس‌النهار»، چې لومړنۍ ګڼه یې د ۱۲۹۰ هجري قمري کال د ذیحجې په ۱۵مه (۱۸۷۳ مېلادي) خپره شوې وه، د افغانستان لومړنۍ رسمي مطبوعاتي جریده بلل کېږي. همداراز، په همدې دوره کې، مطبوعاتو د لومړي ځل لپاره خپل فعالیت د قانون له مخې پیل کړ. (مطبوعات په افغانستان کې: له شمس النهار څخه تر طالبانو، ۱۴۰۱)

د «شمس‌النهار» په اړه بېلابېل نظرونه وړاندې شوي دي؛ ځینو ویلي، چې د افغانستان لومړنۍ نشریه «کابل» وه، نه «شمس‌النهار»؛ خو د څېړونکو، لکه عبدالحی حبیبي او محمد کاظم آهنګ د څېړنو په اساس، داسې نشریه بېخي موجوده نه وه. رښتیا دا دي، چې «شمس‌النهار کابل» د «شمس‌النهار» اصلي او بشپړ نوم و او په عامو محاورو کې به ورته «اخبار کابل» هم ویل کېده. نورو څېړنو هم دا ثابته کړې، چې «شمس‌النهار» د افغانستان د تاریخ لومړنۍ نشریه وه او تر دې وړاندې داسې کومه نشریه نه وه خپره شوې. (جعفري، ۱۳۹۰)

د امیر حبیب‌الله خان د واک ته رسېدو پر مهال، یوه بله نشریه «سراج‌الاخبار» رامنځ ته شوه. دا لومړنۍ نشریه وه، چې د نوي او پرمختللي فکر د ترویج هڅه یې کوله. دا نشریه، چې هر ۱۵ ورځې وروسته خپرېده، یواځینۍ نشـریه وه، چې نوي سیاسي او فرهنګي اصطلاحات یې افغانستان ته راوړي. له همدې امله محمود طرزي، چې د دې نشریې مسوول مدیر و، «د افغانستان د ژورنالېزم پلار» ونومول شو.

د امان‌الله خان د واکمنۍ پر مهال، د ژورنالېزم ارزښت ته لا زیاته پاملرنه وشوه او نوې نشریې لکه «ارشاد النسوان» (د افغانستان د ښځو لومړنۍ مجله)، «سراج‌الاطفال»، «امان افغان»، «ستاره افغان»، «پښتون ژغ»، «انیس»، «اردو» او یو شمېر نورې خپرونې رامنځ ته شوې. همداراز، په همدې دوره (۱۳۱۸ هـ.ش) کې راډیو خپل رسمي فعالیت پیل کړ. (خبرګزاري میزان، ۱۳۹۵)

د امان‌الله خان په شاهي دوره کې د مطبوعاتو د ودې لپاره نور ګامونه هم پورته شول. د افغانستان لومړنی د مطبوعاتو قانون تصویب شو او په اساسي قانون (نظام‌نامه) کې یو شمېر مادې د مطبوعاتو په اړه درج شوې. د دغه قانون په اساس، د نشریې د تاسیس حق یواځې دولت او د افغانستان اتباعو ته ورکړل شوی و. (هماغه، ۱۳۹۵)

په همدې دوره کې، «امان افغان»، «پښتون ژغ» او «ارشاد النسوان» په کابل کې خپرېدل، په همدې وخت کې «اتحاد مشرقی» په ننګرهار کې، «اتفاق اسلام» په هرات، «طلوع افغان» په کندهار او «بیدار» په مزار شریف کې خپرېدې. (بي‌بي‌سي، ۱۳۸٦)

د ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال د ژورنالېزم لپاره فضا لا زیاته پراخه شوه او د ورځپاڼو شمېر ډېر شو. «هېواد» ورځپاڼه په پښتو او «کابل ټایمز» په انګلیسي خپرېده. همداراز د افغانستان د تلوېزیوني چېنل د جوړېدو هڅې هم پیل شوې. (هماغه، ۱۳۹۵)

په ۱۳۴۳ هـ.ش کې د مطبوعاتو ریاست د مطبوعاتو وزارت ته ارتقا وکړه او د افغانستان د مطبوعاتو قانون د ملي شورا له خوا تصویب شو.

د داوود خان په دوره کې د ژورنالېزم په برخه کې کوم ځانګړی بدلون رامنځ ته نه‌شو. یواځینی مهم کار دا و، چې په ۱۳۵۷هـ.ش کې د تلوېزیون لپاره ازمایښتي خپرونې پیل شوې. (هماغه، ۱۳۹۵)

د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور له کودتا وروسته، د افغانستان مطبوعاتي نظام په شدیده توګه بدل شو او ډېرې نشریې

وتړل شوې. یواځې هغو خپرونو اجازه درلوده، چې کمونیستي افکار او اهداف یې منعکسول. (صبح کابل، ۱۴۰۱)

په کمونیستي دوره کې مهمې خپرونې «د ثور انقلاب» (په پښتو)، «پیام»، «حقیقت انقلاب» او «حقیقت سرباز» وې. ځینو شنونکو د نجیب الله د واکمنۍ دوره له نورو کمونیستي مشرانو څخه جلا بللې؛ ځکه دوی باور لري، چې په دغه دوره کې د مطبوعاتو قوانین تر یوه حده نرم شول. (هماغه، ۱۴۰۱)

د نجیب الله دوره د افغانستان د مطبوعاتو لپاره مهمه ګڼل کېږي؛ ځکه د مجاهدینو د بریا تر وخته، د افغانستان دننه او بهر (ایران او پاکستان کې) ګڼې نشریې خپرې شوې، چې د مطبوعاتو په تاریخ کې یوه نوې تجربه وه. (هماغه، ۱۴۰۱)

د مجاهدینو د بریا او د کمونیستي نظام تر سقوط وروسته، د ورځپاڼو فعالیتونو او ژورنالېزم خپل پخوانی برم له لاسه ورکړ او یواځې څو محدودې ورځپاڼې، لکه «کابل»، «بالاحصار»، «صبح امید»، «شهر» او د جهادي ډلو ځینې خپرونې خپرېدې.

د افغانستان د کورنیو جګړو له پیل سره، د ژورنالېزم کار مخ په زوال شو او ګڼشمېر لیکوالان او د قلم خاوندان له هېواده ووتل او ګاونډیو هېوادونو ته مهاجر شول. (هماغه، ۱۳۹۵)

د طالبانو له واک ترلاسه کولو سره د افغانستان رسنۍ او مطبوعات د دغه هېواد په تاریخ کې له بې‌ساري رکود سره مخ شول. تصویري رسنۍ، په ځانګړي ډول تلویزیون، په بشپړ ډول له منځه لاړ. یواځینۍ رسنۍ، چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال فعاله وه، د طالبانو تبلیغاتي راډیو «رادیو صدای شریعت» او یو هم‌نومه اوونیزه خپرونه وه. (هماغه، ۱۳۹۵)

په همدغه دوره کې د افغانستان ځینې زړې خپرونې، لکه «هېواد» او «انیس» په کابل او «اتفاق اسلام» په هرات کې، نیمګړې فرصت وموند چې خپرې شي؛ خو دغو خپرونو هم یواځې د اسلامي امارت رسمي دریځ او لیدلوری منعکساوه. (هماغه، ۱۳۹۵)

د طالبانو د رژیم له سقوط وروسته او د ۲۰۰۱ز کال د جمهوري نظام له رامنځته کېدو سره، چې حامد کرزي یې مشري کوله، د بېلابېلو سیاسي، اجتماعي او فرهنګي تمایلاتو لرونکې نوې ورځپاڼې، راډیوګانې او تصویري رسنۍ رامنځ ته شوې.

د رسنیو پرمختګ دومره زیات و، چې د افغانستان د ډیموکراسۍ څلورم رکن وګڼل شو او د نړۍ د هېوادونو پام یې د رسنیو د ازادۍ او د خبریالانو د کار ازادۍ ته وروااړاوه. سره له دې، چې په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې افغانستان د خبریالانو لپاره تر ټولو ناامن هېواد و؛ خو بیا هم د جمهوریت پر مهال، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ۲۰۳ تلویزیوني چینلونو، ۳٦٦ راډیویي سټېشنونو، ۷۲ ورځپاڼو، ۳۴۵ اوونیزو خپرونو او ۷۳ خبري آژانسونو رسمي ثبت کړی و. (شهرآرا نیوز، ۱۴۰۱)

د ۲۰ کلنې ډیموکراسۍ دوره، د افغانستان د رسنیو د تر ټولو روښانه دورې په توګه یادېږي. په دې موده کې چاپي، غږیزې او تصویري رسنیو د پام وړ فعالیتونه درلودل.

افغان رسنیو په دې دوره کې د بیان د ازادۍ بې‌ساری تجربه وکړه او د رسنیو د فرهنګ جوړونې، معلوماتو رسولو، عامه‌پوهاوي، تفریح او سوداګریزې ودې په برخه کې مهم رول ولوباوه.

## د طالبانو تر واک لاندې د افغانستان رسنۍ

کله چې طالبان د ۲۰۲۱ کال د دوبي په منځ کې کابل ته داخل شول او مخکېنۍ حکومت سقوط وکړ، د افغانستان د رسنیو فعالیت په بشپړ ډول بدل شو او له ګڼو محدودیتونو سره مخ شو. که څه هم دا محدودیتونه د دې ډلې د لومړۍ واکمنۍ (د نوي‌یمې لسیزې) په پرتله لږ وو؛ ځکه په هغه وخت کې پرته له یو څو محدودو مواردو، هېڅ رسنۍ د فعالیت اجازه نه درلوده، په ځانګړي ډول تصویري رسنۍ؛ خو دا ځل طالبانو خصوصي او دولتي رسنیو ته د فعالیت اجازه ورکړې؛ خو له ځانګړو محدودیتونو او شرایطو سره.

د بیان ازادي یو بنسټي حق دی، چې د بشري حقونو نړۍ‌والو قوانینو (IHRL[1]) له مخې خوندي کېږي. ژورنالېزم او په ټوله کې د رسنیو فعالیت د بیان د آزادۍ تر حق لاندې راځي او د نړۍ‌والو قوانینو له مخې، ټول افراد، په ځانګړي ډول خبریالان او د رسنیو کارکوونکي، د دې حق درلودونکي دي.[2] د بیان د آزادۍ حق د ژورنالېزم او رسنیو د فعالیت لپاره پراخ شرایط غواړي، چې دا د آزادو مطبوعاتو، د خبریالانو د ساتنې او د رسنیو آزاد کار ته اړتیا

1. See, e.g., International Covenant on Civil and Political Rights, Dec. 16, 1996, 999 U.N.T.S 171, art. 19.2 [hereinafter ICCPR].
2. UN Human Rights Committee, General Comment No. 34 Article 19: Freedom of Opinion and Expression, 102nd sees, UN Doc

لري، چې رسنۍ وکولی شي معلومات او نظريات «لټون، ترلاسه او خپاره» کړي. د ژورنالېزم او مطبوعاتو ازادي دا معنیٰ لري، چې رسنۍ بايد له محدوديتونو، د دولتي چارواکو له لاسوهنې او امنيتي ګواښونو پرته فعاليت وکړي. د دې موخه دا ده، چې ډاډ ترلاسه شي چې رسنۍ خپلواکه، بې له وېرې، له نفوذ او تاوتريخوالي څخه پرته فعاليت وکړي.[1]

له واک ته رسېدو وروسته، طالبانو پر رسنيزو فعاليتونو پراخ محدوديتونه وضعه کړل، چې دا کار د خبرياالنو او د رسنيو د کارکوونکو آزادي محدودوي. لومړي محدوديتونه دوه ورځې وروسته له هغې اعلان شول، چې طالبانو کابل ونيو. د ۲۰۲۱ز کال د اګست په ۱۷مه، د طالبانو وياند او د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستيال، ذبيح‌الله مجاهد، يو چوکاټ اعلان کړ، چې د رسنيو د فعاليت څرنګوالی يې تنظيماوه. يوه مياشت وروسته، د ۲۰۲۱ز کال د سپټمبر په ۱۹مه، د دولت د معلوماتو او رسنيو مرکز (GMIC) د ژورنالېزم لپاره يوولس قوانين اعلان کړل، چې په اساس يې د رسنيو پر فعاليت نوي محدوديتونه ولګول شول.

د ژورنالېزم دا قوانين، سره له دې چې طالبانو ژمنه کړې وه، چې رسنۍ به آزادې او خپلواکې وي، محلي چارواکو ته پراخ واک ورکوي، چې د رسنيو فعاليت کنټرول کړي. د ژورنالېزم د قانون له ۷مې تر ۱۱مې مادې پورې، طالبانو ته د خپرونو د منځپانګې د کنټرول حق ورکول کېږي او رسنۍ له دې منعه کوي، چې داسې مطالب خپاره يا نشر کړي، چې د طالبانو چارواکو يې رسماً تاييد نه وي کړی. دا معنیٰ لري، چې د طالبانو استازي کولی شي، د داسې مطالبو له خپرېدو مخنيوی وکړي، چې د دوی له نظر سره مخالف يا د دوی د اقداماتو په اړه انتقادي وي.[2]

د ۲۰۲۱ز کال د نوېمبر په ۲۱مه، طالبانو اته «ديني لارښودونه» صادر کړل. له هماغه وخته، رژيم بار بار خبرياالنو او د رسنيو کارکوونکو ته خبرداری ورکړی، چې داسې مواد خپاره نه‌کړي، چې طالبان يې د «اسلامي ارزښتونو» او «ملي ګټو» خلاف ګڼي. برسېره پر دې، د ۲۰۲۲ کال د مارچ له ۲۸مې، خصوصي چينلونه له دې منعه شول، چې د نړېوالو خپروونکو، لکه د امريکا غږ (VOA) او بي‌بي‌سي(BBC)، هر ډول خبري پروګرامونه خپاره کړي. د دغه لارښود په اساس، تفريحي خپرونې، سريالونه او ځينې بهرني پروګرامونه، چې د رسنيو د تفريح او سوداګريزې برخې مهمه برخه جوړوي، محدود شول.[1]

د طالبانو رژيم ګڼ جېنډر/جنسيتي محدوديتونه وضعه کړي، چې ښځينه خبرياالنې او په رسنيو کې ښځينه کارکوونکې يې هدف ګرځولې دي. دا پاليسۍ د ښځو پر لباس سخت کنټرول لګوي، د دوی د بيان او حرکت آزادي محدودوي او د خبرياالې په توګه د دوی د کار کولو وړتيا کمه کوي. ښځې له دې منعه شوې دي، چې د مطبوعاتي کنفرانسونو برخه وي، له طالبانو سره مرکه وکړي او په ځينو ولايتونو کې يې له کار کولو، يا حتیٰ د کېمرې مخې ته له حاضرېدو منعه کړې دي.[2] د محدوديتونو له مخې، ښځې اړې دي، چې داسې لباس واغوندي، چې يواځې يې دوه سترګې ښکاره وي.[3] د رسنيو فعاالن باور لري، چې دا اقدامات به ښځې په بشپړ ډول له تصويري او غږيزو رسنيو څخه لرې کړي.

د داسې قوانينو او محدوديتونو موجوديت، د رسنيو آزادي او خپلواکي تر پوښتنې لاندې راولي، حال دا چې ازادې او خپلواکې رسنۍ د بشري حقونو د ملاتړ لپاره اساسي رول لري. د ازادو رسنيو موجوديت، د دولت د روڼتيا او حساب ورکولو کچه لوړوي او د بشري حقونو د څېړلو ملاتړ کوي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټې ويلي: «آزادې، له سانسور څخه پاکې او له خنډ پرته رسنۍ، د عقيدې او بيان د آزادۍ د تضمين لپاره اړينې دي او د نورو حقونو د خونديتوب لپاره هم حياتي رول لري.»

رسنۍ د هغو پرېکړو او پېښو په اړه خلکو ته معلومات ورکوي، چې د دوی پر ژوند اغېز لري، لکه د عامې روغتيا موضوعات، مدني، سياسي او اقتصادي مسايل. يوه نسبتاً آزاده او خپلواکه رسنۍ د دولت د کړنو د څارونکي په توګه

1. Afghanistan human rights and democracy organization (AHRDO), 2022, Afghan media under the Talban, ICTJ.
2. Reporters without Borders, "Since the Taliban Takeover, 40% of Afghan Media Have Closed, 80% of Women Journalists Have Lost Their Jobs," https://rsf.org/en/taliban-takeover-40-afghan-media-have-closed-80-women-journalists-have-lost-their-jobs (accessed July 20, 2022).

1. Afghanistan human rights and democracy organization (AHRDO), 2022, Afghan media under the Talban, ICTJ.
2. Media Freedom in Afghanistan under the Taliban control final" http://jhr.ca/wp-content/uploads/2024/08/report
3. Afghanistan journalist support organization" http://ajso.org/dr/events/1767

عمل کوي، د دولتي چارواکو د ناوړه استفادې، فساد او سرغړونو راپور ورکوي او دا نظارتي رول د افغانستان په څېر ټولنو کې خورا مهم دی، چې د دولت د فعالیت کچه وڅاري او د خلکو پر وړاندې یې حساب ورکولو ته اړ کړي.[۱]

## د طالبانو واکمنی د رسنیو پر وضعیت اغېزې

د بیان آزادي او د رسنیو فعالیت، چې د مخکیني حکومت پر مهال یوه ستره لاسته راوړنه ګڼل کېده، د طالبانو له واک ته رسېدو سره په څرګند ډول راټیټه شوه. د طالبانو د بېرته واک ته رسېدو په لومړنیو دریو میاشتو کې شاوخوا ۴۳ سلنه د افغانستان رسنۍ له منځه لاړې.[۲] د بې‌پولو خبریالانو (RSF) او د افغانستان د خپلواکو خبریالانو ټولنې (AIJA) له خوا د ۲۰۲۱ز کال د ډېسمبر میاشتې یوه نظرپوښتنه ښیي، چې ۲۳۱ رسنۍ مخکې تر دې بندې شوې وې.

د نړۍوالو خبریالانو فدراسیون (IFJ) له خوا د افغانستان د مطبوعاتو د کلنۍ ازادۍ وروستي راپور ښیي، چې له د ۲۰۲۱ز له اګست څخه تر د ۲۰۲۲ تر آپرېل پورې، له ۳۰۰ زیاتې رسنۍ وتړل شوې. له کابل څخه بهر، د اوو ولایتونو په کچه، لږ تر لږه ٦۰ سلنه رسنۍ د طالبانو د واک ته رسېدو په لومړیو څلورو میاشتو کې فعالیت ته دوام ورنه کړ. د طالبانو له واکمنۍ مخکې ډېریو ولایتونو لږ تر لږه ۱۰ خصوصي رسنۍ درلودې؛ خو اوس یې ځینې تقریباً هېڅ سیمه‌ییزه رسنۍ نه‌لري، چې دا د رسنیو د کمښت یوه څرګنده نښه ده.[۳]

دغه کمښت په ۲۰۲۲ز کال کې هم دوام وموند. د افغانستان د ملی اتحادیې خبریالانو (ANJU) او د نړۍوالو خبریالانو فدراسیون (IFJ) تحلیل ښیي، چې د ۲۰۲۱ز کال د اګست له ۱۵مې څخه مخکې، شاوخوا ٦۲۳ رسنۍ په افغانستان کې فعالې وې؛ خو د ۲۰۲۲ز کال د فېبروری ۲ پورې، دا شمېر ۳۰۵ ته راکم شو. دا معنیٰ لري، چې په دې لنډه موده کې نږدې نیمایي رسنیو خپل فعالیت درولی و. دغې موندنې د افغانستان د خبریالانو مرکز (AJC) له خوا د ۲۰۲۲ز کال په پیل کې تر سره شوې نظرپوښتنې هم تایید کړې. د رسنیو ډله‌ییز بندېدل، د دې سکټور د کارموندنې کچه په پام وړ ډول راټیټه کړه. د (RSF) او (AIJA) د راپور له مخې، د ۲۰۲۱ز کال تر پایه، له ۱۰،۷۹۰ خبریالانو څخه، چې د ۲۰۲۱ز کال د اګست په پیل کې یې کار کاوه، یواځې ۴،۳٦۰ تنه یې د ډېسمبر په لومړیو کې په‌خپلو دندو پاتې وو. د (RSF) راپور ټینګار کوي، چې ښځینه خبریالانو تر ټولو سخت زیان ولید او له هرو پینځو ښځینه خبریالانو، څلور یې له دندې لېرې شوې. د طالبانو د بېرته راتګ په لومړیو میاشتو کې، ۸۰ سلنه افغاني خبریالانې له خپلې دندې بې‌برخې شوې.


بله نظرپوښتنه، چې د (IFJ) او (ANJU) له خوا تر سره او د ۲۰۲۲ز کال د فېبروری په ۲مه خپره شوه، تاییدوي، چې ۲۸ سلنه نارینه او ۷۲ سلنه ښځینه خبریالانې د ۲۰۲۱ز کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ز کال د فېبروری تر ۲مې پورې له خپلو دندو ایستل شوې.[۱]

یو شمېر عوامل د افغانستان د رسنیز سکټور د کمزورۍ کېدو لامل شوي، لکه د مالي منابعو کمښت، د معلوماتو د ترلاسه کولو محدودیت، د طالبانو بندیزونه، ناامني او ګواښونه.

هغه لاسته راوړنې، چې د تېرو دوو لسیزو په اوږدو کې د مطبوعاتو د آزادۍ په برخه کې ترلاسه شوې وې، د طالبانو تر واک لاندې په چټکۍ سره له منځه لاړې. له دې مخکې، افغانستان معلوماتو ته د لاسرسي او د بیان آزادۍ له پلوه په نسبي توګه لوړ مقام درلود. (AHRDO, ۲۰۲۲)


1. Afghanistan human rights and democracy organization (AHRDO), 2022, Afghan media under the Talban, ICTJ.
2. Reporters without Borders, "Since the Taliban Takeover, 40% of Afghan Media Have Closed, 80% of Women Journalists Have Lost Their Jobs," https://rsf.org/en/taliban-takeover-40-afghan-media-have-closed-80-women-journalists-have-lost-their-jobs (accessed July 20, 2022).
3. Reporters without Borders, "Since the Taliban Takeover

1. Afghanistan human rights and democracy organization (AHRDO), 2022, Afghan media under the Talban, ICTJ.




ډیاګراف IFJ

(International federation of journalist, ‘’statistics report”)




ډیاګراف

(International federation of journalist, ‘’statistics report”)

## پایله

رسنۍ د ټولنې له مهمو بنسټونو څخه دي، چې د فرهنګي او ټولنیزو ارزښتونو د لېږد اساسي رول لري. افغانستان د ۱۴۰ کلن مطبوعاتي تاریخ لرونکی هېواد دی؛ خو د لومړۍ خپرونې له تأسیس راهیسې، دا تاریخ تل له کړاوونو سره مخ و. د افغانستان د مطبوعاتو تر ټولو بډایه دوره د تېرو شلو کلونو رسنیز فعالیتونه ګڼل کېدی شي، چې له یوه زرین پړاو وروسته، د مخکېني حکومت تر سقوط او د طالبانو تر واک ته رسېدو وروسته، له سختو بدلونونو سره مخ شو.

دغه بدلونونه دومره ژور وو، چې د طالبانو د بېرته واک ته رسېدو په لومړیو درېیو میاشتو کې، شاوخوا ۴۳ سلنه د افغانستان رسنۍ له منځه لاړې. د افغانستان د ملي اتحادیې خبریالانو (ANJU) او د نړۍوالو خبریالانو فدراسیون (IFJ) تحلیل ښیي، چې د ۲۰۲۱ز کال د اګست تر ۱۵مې، په افغانستان کې ٦۲۳ رسنۍ فعالې وې؛ خو د ۲۰۲۲ز کال د فېبرورۍ تر ۲مې دا شمېر ۳۰۵ ته راکم شو.

د رسنیو ډلهییزو بندېدلو د کارموندنې په کچه هم ژور اغېز وکړ. د (RSF) او (AIJA) راپور ښیي، چې د ۲۰۲۱ز کال تر پایه، له ۱۰،۷۹۰ خبریالانو څخه، چې د ۲۰۲۱ز کال د اګست په پیل کې یې کار کاوه، یواځې ۴،۳٦۰ تنه یې د ډېسمبر تر لومړیو پورې په‌خپلو دندو پاتې وو. دا شمېرې د رسنیو او خبریالانو پر فعالیتونو د طالبانو د واکمنۍ د شدید کمښت ښکارندویي کوي.

یو شمېر عوامل، لکه د مالي منابعو کمښت، معلوماتو ته د لاسرسي محدودیت، د طالبانو بندیزونه، جېنډر/جنسیتي محدودیتونه، ناامني او د خبریالانو پر وړاندې ګواښونه، د افغانستان د رسنیو د کمزوري کېدو اصلي لاملونه ګڼل کېږي. دا وضعیت د اندېښنې وړ دی؛ ځکه چې رسنۍ د یوه هېواد څلورم رکن ګڼل کېږي، چې د بیان آزادي، معلوماتو ته لاسرسی او د حکومت د حساب ورکولو نظارت تضمینوي. سربېره پر دې، رسنۍ د خلکو د پوهاوي کچه لوړوي او د معلوماتو خپرولو رول ترسره کوي.

که څه هم رسنۍ په تېرو شلو کلونو کې د بیان د آزادۍ تر ټولو لوړ مقام ته رسېدلې وې او د خبررسونې، پوهاوي، تفریح او کارموندنې برخه کې یې مهم رول لوبولی؛ خو دا هم نه‌شي رد کېدی چې ځینو تصویري رسنیو داسې خپرونې هم لرلې، چې د اسلامي او افغاني فرهنګ خلاف وې. سره له دې، هغه لاسته راوړنې چې د رسنیو او د بیان ازادۍ په برخه کې تر لاسه شوې وې، نه‌شي هېرېدی؛ ځکه د افغانستان د خبریالانو مرکز د راپور له مخې، د مطبوعاتو د آزادۍ په لاره کې له ۱۰۰ زیات خبریالان خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

اوسنی حکومت باید له خبریالانو او د رسنیو له ملاتړو ټولنو سره ګډ مېکانېزم او تګلاره جوړه کړي، چې د رسنیو د لا زیاتې کمزورۍ مخه ونیسي. نن سبا، چې د معلوماتي ټېکنالوژۍ او معلوماتو عصر دی، رسنۍ د معلوماتو د خپرولو او د نوو ټولنیزو او فرهنګي الګو د معرفي کولو مهم رول لري، چې د دودیزو ارزښتونو ځای نیسي او د ټولنیز بدلون او پرمختګ عاملین بلل کېږي.

## سپارښتنې او تګلارې

۱. د رسنیو لپاره ځانګړی قانون جوړول – چې رسنۍ د قانوني چوکاټ لاندې فعالیت وکړي او له هر ډول تهدید او شکنجې خوندي وي.

۲. د حکومتي او نظامي ځواکونو د پوهاوي لوړول – د حکومت او ولایتي ادارو د مسوولینو روزنه، چې له رسنیو سره د چلند اصول وپېژني.

۳. د رسنیو د مالیاتو معافیت – چې چې رسنۍ بېرته وده وکړي، باید له مالیاتي بوج څخه معاف شي.

۴. د معلوماتو ته د لاسرسي محدودیتونه لرې کول – رسنۍ باید د نشر او خپرونې بشپړ حق ولري.

۵. د خبریالانو فزیکي امنیت – خبریالان باید له فیزیکي ګواښونو او تاوتریخوالي خوندي وي.

٦. د جېنډر/جنسیتي محدودیتونو له منځه وړل – ښځینه خبریالانې باید د کار کولو مساوي فرصتونه ولري.

۷. د حکومت پراخ ملاتړ – د رسنیو د آزاد او خپلواک فعالیت د دوام لپاره باید حکومت پراخ ملاتړ وکړي.

## ماخذونه

۱. آشنا، حسام الدین. (۱۳۸۰)، مخاطب شناسی رسانه،نشریه پژوهش و سنجش، شماره ٢٦.

۲. فکوهی، ناصر. (۱۳۸۹)، چرا کنشگران اجتماعی«خود نمایی» می کنند؟،ستون هفتگی نگارنده در روزنامه شرق، شماره ۱۱۵۰.

۳. دهشیری، محمد رضا. (۱۳۸۸)، رسانه و فرهنگسازی،فصلنامه تحقیقات فرهنگی، دوره دوم شماره ۸.

۴. گیدنز، انتونی. (۱۳۷۷)، افکار عمومی، ترجمه مرتضی کتبی، تهران:نی.

۵. نگاهی به تاریخچه روزنامه نگاری در افغانستان،۱۳۹۵، قابل دسترس در : https://www.mizanonline.ir/fa/news/84466/%D9%86%DA%AF%D8%A7%

٦. مطبوعات در افغانستان از شمس النهار تا طالبان، ۱۴۰۱، قابل دسترس در : https://www.mehrnews.com/news/5658283/%D9%85%D8%B7%D8%A8%

7- See, e.g., International Covenant on Civil and Political Rights, Dec. 16, 1996, 999 U.N.T.S 171, art. 19.2 [hereinafter ICCPR].

8- UN Human Rights Committee, General Comment No. 34 Article 19: Freedom of Opinion and Expression, 102nd sees, UN Doc

9- Reporters without Borders, "Since the Taliban Takeover, 40% of Afghan Media Have Closed, 80% of Women Journalists Have Lost Their Jobs," https://rsf.org/en/taliban-takeover-40-afghan-media-have-closed-80-women-journalists-have-lost-their-jobs (accessed July 20, 2022).

10- International Federation of Journalists, "Statistics Report: A Comprehensive Statistics on Active and Non-Active media Outlets in Afghanistan after the Government Collapsed," IFJ, February 2, 2022, https://www.ifj.org/fileadmin/Statistics_Report___Newsletter___2___02Feb2022.pdf, 2–3.

11- International Federation of Journalists, "Statistics Report," 5

12- Afghanistan human rights and democracy organization (AHRDO), 2022, Afghan media under the Talban, ICTJ.

13- Media Freedom in Afghanistan under the Taliban control final" http://jhr.ca/wp-content/uploads/2024/08/report

14- Afghanistan journalist support organization" http://ajso.org/dr/events/1767

### خبري سایټونه

15- https://www.bbc.com


16- https://subhekabul.com

17- https://www.mizanonline.ir

18- https://shahraranewa.ir

19- https://8am.media

20- https://da.azadiradio



# د ښځو په پیاوړي کولو کې د نارینه‌وو رول

خاطر

**سریزه**

په وروستیو کلونو کې، د ښځو پیاوړي کول د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ له مهمو موخو څخه ګڼل شوي دي. د ښځو پیاوړي کول یعنې په ټولنه کې د مساوي فرصتونو او حقونو برابرول، چې نه یوازې د ښځو د ژوندانه د وضعیت ښه‌والي ته پام کوي، بلکې د ټولنې د ودې او پرمختګ سبب هم ګرځي. په دې لاره کې سړي د ملاتړي او همکار په توګه مهم رول لري. هغوی کولی شي، چې په کورنۍ، د دندې ځای او ټولنه کې د ښځو ملاتړ وکړي او هغوی وهڅوي، چې خپل استعدادونه څرګند کړي.

خو ځینې فرهنګي او ټولنیز خنډونه د دې ملاتړ د بشپړ تطبیق مخنیوی کوي. دا مقاله هڅه کوي، چې د ښځو نظریات او تجربې وڅېړي، د سړیو د رول اهمیت روښانه کړي او د دې مشارکت د پیاوړتیا لپاره حل‌لارې وړاندې کړي.

**کلیدي مفاهیم:** ښځې، پیاوړتیا، د نارینه‌وو همکاري

## ۱. د ښځو پیاوړي کېدل

د ښځو پیاوړي کول هغه پروسه ده، چې په‌کې ښځې له خپلو اړتیاوو او غوښتنو څخه خبرتیا ترلاسه کوي، د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره جرأت مومي او د خپلو هیلو د عملي کولو توان پیدا کوي. د ښځو توانمندېدل دوی ته اجازه ورکوي، چې په مختلفو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي برخو کې فعاله ونډه واخلي. (جعفري او مهدي زاده، ۱۴۰۱)

## د ملګرو ملتونو له نظره د ښځو توانمنېدل

د ملګرو ملتونو د رسمي تعریف په اساس «د ښځو پیاوړي کېدل او د هغوی بشپړ او مساوي ګډون په ټولو اقتصادي او ټولنیزو برخو، لکه د تصمیم نیولو بهیر او واک ته په لاسرسي کې»، د «برابرۍ، پرمختګ او سولې» بنسټي عنصر ګڼل کېږي.

د ملګرو ملتونو د ښځو د چارو په اړه د څلورم کنفرانس پایله هم دې ته اشاره کوي، چې له بده مرغه، د اقتصادي پرمختګ د کمي شاخصونو پر ارزونې باندې افراطي تمرکز، د ښځو د مشارکت اهمیت ته پاملرنه نه‌ده کړې. له همدې امله، د اقتصادي او ټولنیزو جوړښتونو د بدلون شاخص، چې د ښځو پیاوړتیا ته زمینه برابروي او د اوږدمهاله او پایدار پرمختګ بنسټ ګڼل کېږي، له پامه غورځول شوی دی. (حسیني، ۱۳۹۰ش)

## ۲. جنسیتي برابري

جنسیتي برابري یعنې دا چې ښځې او نارینه مساوي حقوق او مسوولیتونه لري او ټول د ټولنې په دننه کې مساوي فرصتونه لري. همدا راز جنسیتي برابري په عدالت او د مسوولیتونو په عادلانه وېش پورې تړلې ده، هم په کورنۍ او هم په ټولنه کې. (نصیري، ۱۳۹۱ش)

جنسیتي برابري دا معنیٰ لري چې ټول افراد، پرته له دې چې کوم جنسیت لري، مساوي حقوقو، فرصتونو او سرچینو ته لاسرسی ولري. دا مفهوم د بشري حقوقو له اساسي اصولو څخه ګڼل کېږي او ټولو ته دا زمینه برابروي، چې په اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي چارو کې برخه واخلي. جنسیتي برابري نه یواځې د مساوي حقوقو برابرولو ته اشاره لري، بلکې د داسې شرایطو رامنځ ته کولو ته هم اشاره کوي، چې په‌کې هم ښځې او هم نارینه د مساوي پرمختګ او ودې فرصت ولري.

## ۳. د سړیو حمایوي رول

د سړیو حمایوي رول، یعنې د ښځو ملاتړ او د هغوی د فرصتونو د ترلاسه کولو لپاره مرسته، چې په مختلفو برخو کې برابري ترلاسه کړي. دا رول کولی شي چې په کورنۍ، کارځای او ټولنه کې ترسره شي.

**الف. په کورنۍ کې د سړیو حمایوي رول**

سړي کولی شي د کورنۍ د مسوولیتونو په شریکولو او د ښځو د پرېکړې د حق په درناوي سره، د هغوی پیاوړتیا ته زمینه برابره کړي. د بېلګې په توګه، نارینه که د کور د کارونو مسوولیتونه ومني او د ماشومانو په پالنه کې برخه واخلي، ښځو ته به دا فرصت ورکړل شي، چې خپلو زده‌کړو، دندې او ټولنیزو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

**ب. په کارځای کې د سړیو حمایوي رول**

په کاري چاپېریال کې، نارینه کولی شي د ښځینه همکارانو ملاتړ وکړي، له جنسیتي تبعیض څخه پاکه فضا رامنځ ته کړي او د مسلکي پرمختګ لپاره مساوي فرصتونه برابر کړي. دا ملاتړ کېدلی شي، چې د ښځو د پیاوړتیا لپاره د برنامو پلي کولو، د حمایوي شبکو جوړولو او د جنسیتي تبعیض د کمولو په بڼه وي.

**ج. په ټولنه کې د سړیو حمایوي رول**

سړي کولی شي د جنسیتي برابرۍ د ودې او د جنسیتي کلیشه‌یي نظریاتو پر ضد مبارزه وکړي، چې ښځو ته د پرمختګ لا زیات فرصتونه برابر شي. دا رول د ټولنیزو کمپاینونو په ملاتړ، د جنسیتي برابرۍ د قوانینو ملاتړ او د ښځو د رول په اړه د فرهنګي ذهنیتونو په بدلولو سره ترسره کېدی شي.

## ۴. برابر کاري چاپېریال

برابر کاري چاپېریال هغه ځای ته ویل کېږي، چې د جنسیت پر اساس د فرصتونو، سرچینو او امتیازونو توپیر په‌کې نه وي. په داسې چاپېریال کې د ګومارنې، معاش او مسلکي

ودې پرېکړې يواځې د وړتيا او فعاليت پر اساس تر سره کېږي، نه د جنسيت پر بنسټ.

په کورنۍ او ټولنه کې د ښځو په ځواکمنولو کې د سړيو رول هر سړی د انساني او اسلامي لیدلوري له مخې مسووليت لري، چې د ښځو د ځواکمنولو لپاره کار وکړي، که په کورنۍ کې وي او که په ټولنه کې. کورنۍ د ښځو لپاره لومړنی ځای دی، چې له نارينه‌وو سره په‌کې تعامل کوي. ښځې په کورنۍ کې د مور، خور او مېرمن په توګه رول لري؛ نو کورنۍ د ښځو د ځواکمنولو تر ټولو مهم ځای دی.

په کورنۍ کې نارينه، لکه پلار، ورور او خاوند کولی شي، چې حمايوي رول ولوبوي او ښځې وهڅوي، چې خپل اهداف ترلاسه کړي. دا مرسته او هڅونه د زده‌کړو د ملاتړ، د تصميم نيولو د حق ورکولو، د کاري فرصتونو ملاتړ او د جنسيتي برابرۍ د روحيې د رامنځ‌ته کولو له لارې ترسره کېدی شي. د دې موضوع د اثبات لپاره موږ کولی شو، د هغو برياليو ښځو رښتونې کيسې بيان کړو، چې د پلار، ورور يا خاوند د ملاتړ له برکته توانېدلې دي، چې خپلې موخې ترلاسه کړي. دغو نارينه‌وو د خپلې انساني او اسلامي وجيبې د ترسره کولو له لارې خپلې ښځې، لونې يا خويندې د بريا لوړو پوړيو ته رسولې دي.

## • عايشه

عايشه يوه ښځه ده، چې د ختيځ افغانستان په ننګرهار ولايت کې ژوند کوي. د پينځو ماشومانو د روزنې په څېر له يوه سخت مسووليت سره، هغه په يوه بهرنۍ موسسه کې برياليۍ کارمنده ده. په هغه مرکه کې، چې ما له هغې سره وکړه، د دې پوښتنې په اړه، چې څنګه يې دا مسلکي او کورنۍ بريا ترلاسه کړه او په دې لاره کې ورسره چا مرسته وکړه، هغې د خپل ژوند په اړه يوه په زړه پورې کيسه وکړه. عايشه په يوه داسې کورنۍ کې نړۍ ته راغلې ده، چې درې وروڼه يې درلودل او هغه د دغې کورنۍ يواځينۍ لور وه. پلار يې موټرچلوونکی و او د ژوند د ستونزو له امله يې په يوه کال کې څو مياشتې په افغانستان کې او څو مياشتې په پاکستان کې تېرولې. دا ګرځنده ژوند او ناسم اقتصادي وضعيت هغه وخت د عايشې د ژوند لومړني پړاوونه وو، چې

دا اړه وه، زده‌کړې وکړي؛ خو تر واده وړاندې د زده‌کړې له نعمت څخه محرومه پاتې شوه؛ خو کله چې عايشې له يوه زده‌کړيال او له پوهنتون څخه فارغ ځوان سره واده وکړ، نو د هغې په ژوند کې ۳۶۰ درجې بدلون راغی. د عايشې مېړه، چې له علم سره يې ډېره مينه لرله، د هغې لپاره د زده‌کړې زمينه برابره کړه او په کور کې يې د لومړنيو ټولګيو کتابونه ورته ولوستل. همدارنګه، هغې عايشه په پينځم ټولګي کې شامله کړه، چې د خپلو لومړنيو او عالي زده‌کړو دوره بشپړه کړي. د مکتب د زده‌کړې په بشپړولو سره، عايشې پوهنتون ته لاره ومونده او د خپل مېړه له مرستې او همکارۍ سره يې د روانپوهنې په برخه کې زده‌کړې بشپړې کړې. له روانپوهنې سره يو ځای يې د خپل مېړه په مالي مرستې په يوه خصوصي پوهنتون کې د محاسبې برخې زده‌کړې هم پای ته ورسولې او اوس په يوه بهرنۍ موسسه کې کار کوي. عايشه، چې اوس يوه پياوړې ښځه ده، په ژوند کې د ترلاسه شوو برياوو لپاره په لويه کچه د خپل مېړه له مرستې او همکارۍ څخه مننه کوي؛ ځکه چې هغه په ژوند کې په هر برخه کې له ستونزو سره سره د هغې ملاتړ وکړ او د خپل انساني او اسلامي مسووليت په بشپړولو سره يې د هغې په ژوند کې مهمه ونډه واخيسته.

## • ناجيه

ناجيه يوه نجلۍ ده، چې د ژوند له مختلفو ستونزو سره سره د کابل پوهنتون له ترکي ژبې او ادبياتو څخه فارغه شوې ده او اوس په افغان ترک ښوونځي کې د يوې تکړه او نخبه استادې په توګه کار کوي. هغه د هغو توانمنو ښځو له ډلې څخه ده، چې په ژوند کې يې د خپلو موخو تعينولو او د کورنۍ د مرستې په اساس يې خپلې موخې ترلاسه کړې دي. په هغه مرکه کې، چې ما له هغې سره وکړه، د دې پوښتنې په اړه چې څنګه يې د ژوند له ستونزو سره سره دا علمي او مسلکي بريا ترلاسه کړه، هغې وويل چې زه خپله اوسنۍ بريا د خپل پلار او وروڼو مرسته بولم. هغې وويل، چې دوی د ژوند په اوږدو کې زما اصلي الهام او هڅوونکي وو. زه اوس په‌خپل ژوند کې د ترلاسه شوو برياوو له امله په لويه کچه د خپلې کورنۍ، په ځانګړې توګه د پلار او وروڼو مننديه يم.

## د کار په چاپېریال کې د ښځو په ځواکمنولو کې د نارینهوو رول

د کار په چاپېریال کې د ښځو په ځواکمنولو کې د نارینهوو رول د برابر شرایطو او فرصتونو د رامنځ ته کولو په برخه کې دی. دا رول په لاندې ډول تعریف کېدی شي؛

### ۱. د برابر فرصتونو رامنځ ته کول

نارینه په مدیریتي موقفونو کې کولی شي، د برابرو مسلکي فرصتونو په رامنځ ته کولو کې مهم رول ولوبوي؛ په دې کې منابعو، مسلکي روزنو او مدیریتي موقفونو ته د ښځو د لاسرسي تضمین شامل دی. د بېلګې په توګه، هغه مدیران، چې د استخدام او ترفیع په وخت کې د جنسیتي برابرۍ پالیسۍ تطبیق کوي، د ښځو په ځواکمنولو کې مرسته کوي. څېړنې ښيي، چې د جنسیتي تنوع لرونکې کارې ډلې، د خلاقیت او تولید په برخه کې ډېرې بریالۍ دي.

### ۲. د عادلانه معاشاتو او امتیازاتو تضمین

د کار چاپېریال کې یو له سترو ستونزو څخه د معاشاتو او امتیازاتو توپیر دی. نارینه کولی شي د معاشاتو په شفافیت او د هغو پالیسیو په تطبیق کې، چې د ښځو او نارینهوو لپاره برابر حقوق برابروي، د ملاتړ رول ولوبوي. د بېلګې په توګه، د "د برابر کار لپاره برابر معاش" پالیسي تطبیق کول یو مهم ګام دی.

### ۳. له تبعیض څخه د پاک کاري چاپېریال رامنځ ته کول

نارینه کولی شي د ملاتړ او درناوي لرونکي کاري چاپېریال په رامنځ ته کولو سره ښځو ته دا زمینه برابره کړي، چې د خپلې ځواکمنۍ تر ټولو لوړې کچې ته ورسي. په دې کې له جنسیتي ځورونې څخه مخنیوی، د آزادانه نظرونو بیانولو ته هڅونه او د ملاتړ پروګرامونه په‌کې شامل دي. د بېلګې په توګه، هغه پروګرامونه چې د ښځو لپاره د کار او کورنۍ ژوند ترمنځ تعادل برابروي، لکه د انعطاف وړ کار وختونه یا د ماشومانو د روزنې مرکزونه، کولی شي د نارینه مدیرانو له خوا حمایه شي.

### ۴. د الګو په ډول رهبر

نارینه کولی شي د برابرۍ غوښتونکي چلند او د همکارۍ او همدردۍ په ډلو کې د ملاتړ له لارې د نورو لپاره بېلګې وړاندې کړي. د بېلګې په توګه، یو مدیر چې په فعاله توګه ښځو ته د ستراتیژیکو پریکړو په نیولو کې برخه ورکوي، نورو همکارانو ته ښیي، چې د ښځو ځواکمني یو سازماني ارزښت دی.

دغه ګامونه نه یوازې د ښځو په ځواکمنولو کې مرسته کوي، بلکې کاري چاپېریال د ټولو کارکوونکو لپاره مثبت او ډېر تولیدي کوي. هغه سازمانونه، چې نارینه او ښځې په کې په برابر ډول برخه لري، معمولاً د ښه فعالیت او لوړې پایدارۍ لرونکي دي.

## پایله

د ښځو ځواکمنېدل نه یوازې یو ټولنیز هدف، بلکې د دوامداره اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره یوه اساسي اړتیا ده. په دې مقاله کې د ښځو د ځواکمنولو لپاره د سړیو د رول اهمیت ته اشاره وشوه او عملي بېلګې یې وڅېړل شوې، چې نارینه څنګه کولی شي په کورنۍ، کاري چاپېریال او ټولنه کې د ښځو ملاتړ وکړي.

د عایشې او ناجیې په څېر د ښځو کیسو وښودله، چې د پلار، ورور او خاوند ملاتړ څنګه کولی شي هغوی ته د شخصي، تحصیلي او مسلکي بریاوو زمینه برابره کړي.

په کورنۍ کې، سړي د مسوولیتونو په وېشلو او مساوي فرصتونو په برابرولو سره، ښځې د ودې او پرمختګ لور ته سوق کوي. کېدلی شي، چې دا رول زده‌کړو ته په تشویق، د مستقل تصمیم نیولو حق او د کار کولو فرصتونو رامنځ ته کولو برخه کې  شامل وي، چې پایله یې د ښځو د اعتماد زیاتوالی او په کورنیو او ټولنیزو چارو کې فعال ګډون دی.

په کاري چاپېریال کې نارینه کولی شي د جنسیتي برابرۍ د پالیسیو تطبیق، د تبعیض له منځه وړلو او د مسلکي پرمختګ د فرصتونو برابرولو له لارې، د ښځو د پیاوړي کولو لپاره مهم رول ولوبوي.

همدا راز په ټولنه کې نارینه د کلتوري بدلون د عاملینو په توګه کولی شي، د جنسیتي برابرۍ د قوانینو ملاتړ وکړي، له دودیزو کلیشه‌یي نظرونو سره مبارزه وکړي او د ښځو د

مشارکت لپاره زيات فرصتونه برابر کړي. د دوی اقدامات، که د رهبرۍ د نمونو، روڼو پالیسیو، یا ټولنیزو فعالیتونو ملاتړ ته راشي، د ښځو د ټولنیز موقف په پیاوړتیا کې ژور اغېز لري.

د يوې عادلانه او پرمختللې ټولنې د رامنځ ته کولو لپاره اړينه ده، چې د جنسيتي واټنونو د کمولو لپاره د ښځو او نارينه‌وو ترمنځ همکاري لا پیاوړې شي. د ښځو ځواکمنول نه یواځې د هغوی د ژوند کیفیت لوړوي، بلکې د ټولې ټولنې په گټه ده؛ ځکه هغه ټولنې چې د جنسيتي برابرۍ اصل ته ژمنې دي، له اقتصادي ودې، ټولنيز ثبات او فرهنگي پرمختگ څخه زياتې گټې اخلي.

دا مقاله ښيي، چې نارينه د ژوند په ټولو برخو کې د حمايوي رول په لوبولو سره کولی شي، د ښځو د پیاوړتیا مهم شریکان وي. دا همکاري به يو روښانه او عادلانه راتلونکی تضمين کړي.

## ماخذونه


۱. جعفری، مهناز و مهدی زاده، حسین.(۱۴۰۱). زنان و توانمند سازی: مجله روستا و توسعه.

۲. حسینی، فاطمه (۱۳۹۰)، معرفی مفاهیم کلی مرتبط با «توانمندسازی زنان»، روزنامه شماره ٦۱۴٦ دنیایی اقتصاد

3. https://www.unfpa.org/resources/frequently-asked-questions-about-gender-equality

4. https://businessfightspoverty.org/wp-content/uploads/2022/12/BFP-Men-as-Allies-Full-Report.pdf

5. [WEF Global Gender Gap Report [

6. https://www.mckinsey.com/featured-insights/women-in-the-workplace

7. [Catalyst Report on Men Advocating for Women]

8. https://www.catalyst.org/research/men-advocating-real-change/

9. https://www.mckinsey.com/featured-insights/

# مېرمن

مجله

افغانو مېرمنو ته ځانګړې شوې مجله

لومړی کال؛ څلورمه ګڼه

ژمی؛ ۱۴۰۳ل

د مېرمن میډیا له لوري په وياړ سره وړاندې کېږي.


@Merman_Media

www.merman.media